دعوت

۱۱

مولوی جمیل الرحمن وویل

آغاخان د اسلام او افغانستان دښمن دی

د افغانستان په آزادو سیمو باندې د قبائلي قوانینو خادر خپور دی نه د اسلامي قوانینو۔

عبوري حکومت د افغانستان په یوه لوشت ځمکه کې هم د امنیت د ټینګښت او د جهاد د پیاوړتیا صلاحیت نه لري۔

د عبوري حکومت تول وخت د امریکا سره په مشورو او د دوی فیصلو په ارضاکې تیریږي۔

د شر انطیو سره سازش او په اسلامي ارزښتونو باندې معامله کول د ملتونو د ذلت او رسوائۍ موجبات برابروي

بسم الله الرحمن الرحيم

يا ايها الذين امنوا لا تتخذوا الكفرين اولياء من
دون المؤمنين أتريدون ان تجعلوا لله عليكم سلطانا
مبينا ○ ان المنفقين في الدرك الاسفل من النار
ولن تجد لهم نصيرا ○

النساء - ۱۴۳-۱۴۴

ترجمه : ای مؤمنان ! کافران را بجای مسلمانان دوست مگیرید
آیا میخواهید تا در نزد خداوند الزام صریحی بر خود وارد کنید ؟
حقا که منافقان در طبقهٔ زیرین آتش اند و تو هرگز بر ایشان
مددگاری نمی یابی .

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ

دعوت

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افکارو خپرونکی

PROPERTY OF ACKU

دوهم کال - پرپسی (۱۱) گنه - د ۱۴۱۰ هـ ق کال د رمضان المبارك او شوال المکرم میاشتی

هغه څه چه پدی گنه کښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱ـ	قرآنی دعوت او هدایت	۲
۲ـ	حقانیت مسلك اهلحدیث	۴
۳ـ	د روژی د مبارکی میاشتی فضیلت	۱۱
٤ـ	له شیخ جمیل الرحمن سره مرکه	۱۵
۵ـ	د آزادی شیبی	۲۹
٦ـ	له مولوی غلام محمد غریب سره مرکه	۳۰
۷ـ	د بدر غزا	۳۲
۸ـ	د شهید حاجی بوستان لنډی سوانح	۳۸
۹ـ	د تنظیم طلبهٔ سلفیه پیغام	۳۹
۱۰ـ	نامه های وارده	٤۳
۱۱ـ	د جهاد خبرونه	٤۷
۱۲ـ		

مؤسس:

مولوي جَمِيلُ الرَّحْمٰن

د امتیاز خاوند:

جماعة الدعوة إلى القرآن والسنة

خپرونکی اداره:

فرهنګي کميټه - دنشراتو لویٔ مدیریت

مهتمم:

مولوي غلام محمّد "غريب"

پوست بکس:

۱۲۰۲

پېښور پاکستان

قرآني دعوت او هدایت

د الله تعالی برحق پیغمبر د یو رټل شوی انسان په دربار کی :

د فکر او اندیښنی خبره ده چه حضرت موسی علیه السلام د الله تعالی له لوری د برحق پیغمبر په حیث مبعوث شو . هغه د کایناتو د خالق غوره شوی بنده او پیغمبر ؤ خو چاته او چیرته لیږل کیږی ؟ د هغه چا دربار ته چه د الله تعالی دښمن دی او د بغاوت جنډه ئی پورته کړیده . یو غوره شوی او محبوب شخصیت د یو منفور او باغی انسان دربار ته استول کیږی . یو د حق داعی او طرفدار دی او بل د باطل د ټینګښت او د حق د نور د خاموشه کولو لپاره سرګردان او لیوال دی . د دغو دواړو ترمنځ د نظریاتو او عقایدو زیاته فاصله حایله وه ، یو د بل سخت دښمنان دی . دومره توپیر د دوه عامو انسانانو ترمنځ نه وی بلکه د هغو کسانو تر منځ پیدا کیږی چه له یو بل سره د عقیدی او نظرئی اختلاف ولری . د خپل عصر له ټولونه ستر پیغمبر هغه چاته ورځی چه حق او حقیقت ته ئی چیلنج ورکړی ، د الهی عظمت له منلو څخه ئی انکار کړی او د عظمت او لوئی صفت ئی د ځان لپاره مختص کړیدی . د هغه باغیانه جرأت او بی حیائی تردی درجی رسیدلی ؤ چه خلکو ته ئی په ډاګه اعلان کړی ؤ :

انا ربکم الاعلی .

موسی علیه السلام د هغه ظالم په دربار کی حاضر شو چه یوازی د کفر او انکار مرتکب شوی نه ؤ بلکه پخپله ئی هم د خدائی اعلان کړی ؤ ، موسی علیه السلام د یو مجرم او د نفرت او لعنت وړ ځیری په وړاندی ودرید . ځکه هغه ته هدایت ورکړی

شوی ؤ د الله تعالی له لوری چه :

فقولا له قولا لينا لعله يتذكر او يخشى .

یعنی په نرمی ورسره خبری وکړه شاید فکر وکړی او یا وویریږی .

د دغه الهی هدایت نه وروسته د هیڅ داعی او مبلغ لپاره دا مجال نه پاتی کیږی چه د دعوت په کار کی د سختی ژبی او لهجی نه کار واخلی او یا ورته څه تاویلات جوړ کړی څکه په بی باکی ، سرکشی او انکار کی له فرعون نه زیات څوك کیدای شی او څوك دا جرأت کولی شی چه ووائی «انا ربكم الاعلى» خو د دغه باغی او سرکش سره د خبرو او د حق لوری ته د دعوت لپاره هم د وخت پیغمبر استول کیږی او هغه ته هم هدایت ورکول کیږی چه د فرعون سره په نرمه ژبه خبری وکړه . حضرت موسى علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام ته چه کله دا حکم واورولی شو چه د فرعون دربار ته ورشی او د حق کلمه ورته بیان کړی نو :

قالا ربنا اننا نخاف ان يفرط علينا او ان يطغى

دواړو وویل چه ای زمونږ ربه مونږ ویریږو چه هغه به په مونږ زیاتی وکړی او یا به نور هم سرکش او باغی شی .

د الله تعالی له لوری ارشاد وشو :

لاتخافا انني معكما اسمع وارى . فاتياه فقولا انا رسولا ربك فارسل معنا بنى اسرائيل ولا تعذبهم قد جئناك باية من ربك والسلام على من اتبع الهدى . انا قد اوحى الينا ان العذاب على من كذب وتولى . قال فمن ربكما يموسى قال ربنا الذى اعطى كل شئ خلقه ثم هدى .

(طه ۴٦ ـ ٥٠)

ترجمه : مه ویریږی ـ زه ستاسو سره یم او آورم او وینم ، هغه ته ورشی او ورته ووائی چه مونږ ستا د پروردگار له لوری درته را استول شوی یو .

نو بنی اسرائیل زمونږ سره ولیږه او هغوی مه آزار وه . مونږ ته دا وحی راغی چه که څوك دروغ ووائی او نافرمانی وکړی د هغه لپاره عذاب دی . (لنډه دا چه موسی او هارون ، فرعون ته ورغلل) هغه وویل ستاسو پروردگار څوك دی ؟ دوی ورته وویل : زمونږ پروردگار هغه دی چه هرشی ته ئی شکل او صورت ورکړی او بیا ئی ورته لار ښودلی ده .

حقانیت مسلک اهلحدیث قسط (٥)

گفتگوی یک مقلد با غیر مقلد پیرامون عمل به حدیث و تقلید

مقلد : سوال میکند ، جناب ! لطفاً بگوئید که شما حنفی اید و یا شافعی ؟

غیر مقلد جواب میدهد : جناب ! من نه حنفی ام و نه شافعی بلکه من محمدی ام ، زیرا که من به پیامبری محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان آورده ام و کسیرا که من به نبوت آن معتقد ام انتساب خود را نیز صرف بسوی آن میکنم .

مقلد : از سخنان شما چنین برمی آید که غیر مقلد هستید و تقلید را واجب نمیدانید .

غیر مقلد : بدون شك من تقلید را واجب نمیدانم ، زیرا که وجوب آن نه از کتاب خدا ثابت است و نه از حدیث رسول الله .

مقلد : وجوب تقلید از اجماع ثابت است و پیروی اجماع واجب است و منکر آن کافر .

غیر مقلد : تعریف اجماع چیست ؟

مقلد : الاجماع هوفی اللغة الاتفاق وفی الشریعة اتفاق مجتهدین صالحین من امة محمد علیه الصلوة والسلام فی عصر واحد علی امر قولی وفعلی

ترجمه : اجماع در لغت اتفاق و اتحاد را گویند و در اصطلاح شرع اتفاق صلحاء پاکبازان مجتهدین امة محمد صلی الله علیه وسلم را گویند . که دریك زمانهٔ واحد برکدام امر قولی و یا فعلی اتحاد آراء نموده باشند .

غیر مقلد : لطفاً علت قیود مجتهدین وصالحین را (در تعریف اجماع) بیان دارید .

مقلد : المراد بالمجتهدین جمیع المجتهدین الکائنین فی عصر من الاعصار و احترز به عن اتفاق المقلدین واحترز بقوله صالحین عن اتفاق مجتهدین ذوی هوی وفاسقین . «حاشیهٔ نور الانوار» وقید بالمجتهدین اذلاعبرة باتفاق

العوام و عرف بلام الاستغراق احترازاً عن اتفاق بعض مجتهدی عصر . «تلویح» و اهل الاجماع من کان مجتهدا صالحا لما یستغنی عن الرای . (نور الانوار) .

ترجمه: مطلب از مجتهدین (که در تعریف اجماع آمده است) تمام آن عده مجتهدین هستند که در عصری از اعصار موجود باشند و با افزودن این قید (قید مجتهدین) اتفاق مقلدین را از تحت تعریف اجماع خارج نمود و باعلاوه نمودن قید صالحین ، اتفاق مجتهدین ذوی هوی و فاسق را از ذیل تعریف اجماع خارج نمود (حاشیهٔ نور الانوار)

اینکه در تعریف اجماع قید مجتهدین آورده شده است بخاطریست که اتفاق عوام مورد اعتبار نیست و لفظ مجتهدین معرف به لام استغراق شده است تا اتفاق بعضی مجتهدین از تحت تعریف اجماع بیرون شود . «تلریح» زیرا اینکه اگر تمام مجتهدین یك عصر دریك مسئله مابها النزاع به توافق آراء نه رسند ، اتفاق بعضی آنها را برآن مسئله اجماع گفته نمیشود . اهل اجماع کسانی شده می توانند که مجتهدین صالحین بوده باشند (نور الانوار) .

از تعریفات وقیودات فوق واضح شد که «برای اجماع» اتفاق همهٔ آن مجتهدینکه متقی و پرهیز گار باشند و صلاحیت رای دادن را داشته باشند و از فسق و بدعت پاك ومبراء باشند ـ حتمی و ضروری است .

غیر مقلد : حالا خود شما انصاف نمائید که بعد از آئمه اربعه اجماع چند مجتهد صالح بر وجوب تقلید شده است ، اول اینکه به برکت تقلید شما به کسی اطلاق مجتهد را کرده نمی توانید ، دوم اینکه در طول تاریخ هر که مجتهد بوده است او برعدم وجوب تقلید معتقد بوده است ـ خیر بهرحال ـ حال لطف نموده بگوئید که تعریف اجتهاد چیست و برای مجتهد شدن چه شروط است ؟

مقلد : والاجتهاد هو فی اللغة تحمل الجهد الی المشقة وفی الاصطلاح استفراغ الفقیه الوسع لتحصیل ظن بحکم شرعی و معنی استفراغ الوسع بذل تمام الطاقة بحیث یحس من نفسه العجز مزید علیه و شرط الاجتهاد آن یجمع العلم بامور ثلثة الاول ، الکتاب والمراد بالکتاب قدر مایتعلق بمعرفة الاحکام ، الثانی ، السنة قدر مایتعلق بالاحکام و وجوه القیاس بشرائطها واقسامها و احکامها (تلویح) .

ترجمه : اجتهاد در لغت تحمل جد و کوششی را گویند که منجر به مشقت و تکلیف گردد و در اصطلاح بروی کار آوردن فقیه صلاحیت و استعداد فکری خود را بخاطر حصول و بدست آوری گمان (راجح) دریك امر ومسئله

شرعی و دینی .

معنی استفراغ الوسع ، بذل تمام طاقت و قدرت را گویند بطوریکه مزید برآن را (مجتهد) در نفس خود احساس عجز و ناتوانی نماید ، دانستن سه علم از شروط اجتهاد است .

١ ـ قرآن کریم : به مقداریکه تعلق به معرفت و شناسائی احکام دارد .

٢ ـ سنت ، به قدریکه تعلق به معرفت و شناخت احکام دارد .

٣ ـ دانستن وجوه و طرق قیاس باشروط واقسام واحکام آن .

پس احکامیکه متعلق به کتاب و سنت است هر که بآن و به وجوه قیاس عالم باشد مجتهد است .

غیر مقلد : اگر برکدام مسئله مجتهدین یك زمانه اجماع کرده باشند و اجماع مجتهدین زمانه دیگر برخلاف آن باشد ، لطفاً این را بگوئید که اجماع دومی نیز واجب الاتباع است یانه ؟

مقلد : قیل یشترط للاجماع اللاحق عدم الاختلاف السابق عند ابی حنیفة رحمة الله علیه ولیس کذالك فی الصحیح بل انه ینعقد الصحیح عنده اجماع متاخر و یرتفع الخلاف السابق من الاجماع اللاحق (نور الانوار) قوله انه ینعقد عنده ای عند الامام الاعظم اجماع متاخر اذالمعتبر انما هو اتفاق مجتهدی العصر سواء تقدم الخلاف اولا والدلائل الدالة علی حجیة الاجماع لیست بعقیدة العدم الاختلاف السابق قوله ویرتفع الخلاف السابق لان دلیل السابئین المخالفین لم یبق دلیلا یعتد به بعد ما انعقد الاجماع علی خلافه کما اذا نزل نص بعد العمل بالقیاس (حاشیهٔ نور الانوار)

ترجمه : گفته شده است که نزد امام ابوحنیفة برای (اعتبار) اجماع بعدی عدم سبقیت خلاف در اجماع سابق شرط است اما نظر به قول صحیح شرط مذکور نزد امام صاحب معتبر نیست ، بلکه صحیح نزد امام صاحب این است که اجماع متأخر (باوجود بودن اختلاف در اجماع سابق) منعقد می شود و این اجماع متأخر ، خلافیکه در اجماع سابق بود آنرا رفع می سازد . قول صاحب نور الانوار که میگوید : انه ینعقد عنده «ای عند الامام الاعظم» اجماع متاخراً این مطلب را دارد که معتبر در اجماع اتفاق مجتهدین یك عصر می باشد ، بغیر در نظر داشت دلائل و براهینیکه دال برحجیت اجماع است و از آنها مفهوم عدم خلاف در اجماع سابق ـ بر نمی آید ـ یعنی ز دلائلیکه در سلسلهٔ حجیت اجماع است ، چنین دانسته نمی شود که برای اجماع بعدی عدم خلاف در اجماع سابق شرط باشد . قول صاحب

نور الانوار که میگوید : ویرتفع الخلاف السابق - مفهومش اینست که :

بعد از انعقاد اجماع متأخر که خلاف اجماع سابق منعقد شد ، دلیل اجماع کننده گان سابق از اعتبار ساقط میگردد ، دیگر آن دلیل حیثیت دلیل بودن را از دست میدهد . اجماع متأخر (بخلاف اجماع سابق) درین صورت حیثیت نص را بخود میگیرد که بعد از عمل به قیاس نازل میشود ، یعنی اجماع اولی مرتفع می شود و اجماع دومی واجب الاتباع میگردد - زیرا که اجماع دومی اجماع اولی را طوری باطل نموده و از کار می اندازد که دریافت نص حکم قیاس را باطل نموده و از کار می اندازد

غیر مقلد : جناب آیا درمیان نسخ و این (اجماع متأخر بخلاف اجماع سابق) فرق است و یانه ؟ اگر باشد ، ولانسخ بعد انقطاع الوحی .

مقلد : اجیب بجوازه فیماثبت بالاجتهاد علی معنی انه لما انتهی ذالك الحکم فانتهاء المصلحة وفق الله المجتهدین للاتفاق علی القول الاخر و رفع الخلاف وان لم یعر فوامدة الحکم وتبدل المصلحة (تلویح) .

ترجمه: جواب داده شده به جواز نسخ (بعد از انقطاع وحی) در اموریکه توسط اجتهاد ثابت می شود . باین معنی که هر گاه نسبت باقی نماندن مصلحت آن حکم به پایان رسید ، خداوند متعال مجتهدین را به اتفاق یك قول دیگر ورفع خلاف توفیق بخشید اگرچه (مجتهدین) از مدت حکم و تبدیلی مصلحت بی خبرند . (تلویح) .

لکن - الامة اذا اختلفوا فی مسئلة فی ای عصر کان علی ای . قول کان اجماعا منهم علی ان ما عداها باطل ولایجوز لاحد بعدهم احداث قول آخر و قیل هذا فی الصحابة وهذا سمی اجماعًا مرکبًا (نور الانوار) .

ترجمه: هرگاه در زمانهٔ از زمانه ها درمیان امت در کدام مسئله اختلاف شده باشد . پس علاوه از آن اقوال (مختلف فیه) قول سوم باطل است - یعنی برای کسانیکه بعد از آنها می آیند ، ایجاد کدام رأی و نظریهٔ جدید جائز نیست ، بعضی ها گفته اند که این (اجماع) مخصوص صحابهٔ کرام است ، این گونه اجماع را اجماع مرکب میگویند .

غیر مقلد : مقصد فقهاء کرام از ایجاد و قائم ساختن اصول مذکور این است که انحصار مذاهب صرف در همین چهار مذهب صورت گیرد - لیکن اگر منظور از اختلاف فقط اختلاف دریك زمانه باشد ، پس او (اختلاف) درین مذاهب (چهار گانه) نیز موجود است ، مثلا امام مالك و امام ابوحنیفة هر دو همعصر بودند و باهم

مخالف اگر اختلاف یك زمانه را خصوصیتی نیست ، پس چرا اختلاف ما معتبر نباشد ؟

طوریکه اختلاف امام شافعی و احمد بن جنبل معتبر است .

مقلد : الجواب عنه صعب (نور الانوار) بدون شك جواب ازین پرابلم مشکل است ـ الا ان یقال الاختلاف المعتبر هو الذی فی زمان واحد والشافعی وغیره اذا قالوا قولا انما یقولان اذا جری به رای ابی یوسف و محمد مع ابی حنیفة او کان اختلاف بین الصحابة فاخذ ابو حنیفة رحمة الله علیه بقول صحابی و مالك والشافعی بقول صحابی آخر (تفسیر احمدی)

ترجمه : مگر اینکه در جواب گفته شود ، که اختلاف معتبر همان است که دریك زمانه باشد . درین صورت مذهب امام شافعی وغیره باطل قرار نمیگیرد ، زیرا اینکه درین صورت اختلاف امام شافعی از دوحال خالی نیست ، یا همان اختلافی است که قبل از امام شافعی شاگردان امام ابوحنیفة با استاذ شان (ابو حنیفة) در آن اختلاف نظر داشتند و یا اینکه آن (اختلاف) قبلا درمیان صحابهٔ کرام نیز بوقوع پیوسته بود .

غیر مقلد : خدارا ! انصاف کن ، این چقدر استدلال بیجا است و بیان آن تا کدام حد از شأن عقلا و اصحاب خرد بعید است ، که اجماع یك زمانه اجماع زمانهٔ دیگر را منسوخ کند و او لطف و مرحمت الهی دانسته شود و بعد از دو قول مختلف فیهمای یك زمانه در زمانهٔ دیگر اظهار قول سومی نه تنها ناجایز باشد بلکه گفتن آن باطل قرار گیرد .

مقلد : آیا شما از اجماع منکرید ؟

غیر مقلد : اجماع دو صورت داردیکی اینکه مستند آن کتاب و سنت باشد دوم اینکه صرف اتفاق و اتحاد علماء و فقها باشد خواه بنابر کدام ضرورت باشد و یا بنابر کدام مصلحتی ـ صورت اولی اجماع واجب الاتباع است ، زیرا پیروی او د رحقیقت پیروی از کتاب و سنت است و اتباع از قسم دومی آن (اجماع) در نهایت زشت وقبیح و شرم آور است .

مقلد : غرض ما از اجماع نیز قسم اولی آن است . لکن به ما ضروری نیست که در مورد هر اجماع ثابت کنیم که مستند آن کتاب و سنت است ، اما چونکه بدون چنین استنادی (از کتاب و سنت) اجماع کردن علماء محال است ، بناء هر اجماع را از قسم اولی (مستدبط) از کتاب و سنت) باید دانست .

غیر مقلد : نقطهٔ اشتباه و خطاء شما نیز همین جاست .

مقلد : دلیل این اشتباه و غلطی را بیان کنید .

غیر مقلد: جناب والا! باین فرمان خداوند گوش نهید که می فرماید:

اذا قیل لهم آمنوا بما انزل الله قالوا بل نتبع ما الفینا علیه آبأنا.

ترجمه: هرگاه بآنها گفته شود که ایمان بیارید آنها در جواب میگویند ما پیروی از همان طریقه و منهجی میکنیم که پدران و بزرگان خود را برآن یافتیم.

درین مقام دیده می شود که آنها (کفار) نیز اجماع بزرگان خود را برهمین فکر و خیال (که مسیر ایشان حق است) واجب الاتباع می دانستند.

در آیهٔ دیگر خداوند می فرماید:

اتخذوا احبارهم و رهبانهم اربابًا من دون الله.

یهودی ها و نصرانیها، احبار (علماء) و رهبان (بزرگان وصوفی های) خود را رب قرار دادند. در حالیکه یهود ونصاری هیچکدام احبار و رهبان خود را رب نمیگفتند، بلکه آنچه که باعث نکوهش و سرزنش ایشان گردید، این بود که نسبت بأنها (احبار و رهبان خود) حسن ظن و باور نیك داشتند باینطور که چیزی را که آنها حلال میگفتند، آنرا اینان نیز حلال می دانستند و چیزی را که آنها حرام می گفتند، آنرا اینان نیز حرام می دانستند. اگر به کتاب خدا تسلی و اطمینان تان حاصل نمیشود، پس لطفًا به اقوال فقها و علماء گوش فرا دهید که درین مورد چه میفرمایند؟

قال الشعبی ما حد ثوك هؤلاء عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فخذ به وماقالوه برائیهم فالقیه فی الحشیش (ازالة الخفاء)

ترجمه: آنچرا که این مردم برای تو (ای مخاطب) از پیامبر صلی الله علیه وسلم بیان میکنند، او را بگیر و بدان عمل کن و آنچرا که از رای و قیاس خود میگویند او را در مستراح (مبرز) بیفگن.

عن عبدالله ابن عباس و عطا و مجاهد و مالك بن انس رضی الله عنهم انهم كانوا یقولون مامن احد الا وهو مأ خوذ من كلامه ومردود علیه الا رسول الله صلی الله علیه وسلم.

ترجمه: عبدالله بن عباس وعطا و مجاهد و مالك ابن انس همگی باین قول قایل بودند که قول هر کسی مأخوذ و مردود است یعنی قول هر فرد از انسانها قابلیت گرفتن و ترك کردن هر دو را دارد، سوای قول رسول الله صلی الله علیه وسلم که در هر صورت باید گرفته شود و بأن عمل کرده شود.

قال بعض السلف ما جاءنا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قلبنا. علی الراس و العین

و ماجاء ناعن الصحابة رضی الله عنهم فناخذ منه ونترك وماجاء نا عن التا بعين فهم رجال ونحن رجال .

ترجمه: بعض علماء سلف گفته اند آنچه از پیامبر صلی الله علیه وسلم برای مارسیده است به سروچشم او را قبول داریم و آنچه را که صحابه کرام گفته اند و کرده اند می گیریم (در صورتیکه مصادم باقول و فعل رسول الله نباشد) و ترك نیز میکنیم (در صورتیکه مصادم باقول و فعل رسول الله باشد) ومنها ان یکون اعتماده فی علوم علی بصیرته وادرا که لصفاء قلبه لاعلی الصحف والکتب ولاعلی تقلید مایسمعه من غیره و انما المقلد صاحب الشرع صلوات الله علیه وسلام ومن انکشف عن قلبه العظاء واستنار نبور الهدایة صار فی نفسه متبوعا مقلدا فلا ینبغی ان یقلد غیره .

از جمله صفات عالم یکی اینست که درعلوم خود بیشتر اعتماد به ادراك و بصیرت خود کند .

نه که به صحیفه ها و کتاب ها وتقلید دیگران ـ زیرا او کسیکه تقلید و پیروی او لازم و ضروری است فقط صاحب شریعت (محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم) است و بس ، پس هرکسیکه بانور هدایت دل خود را منورکند او خود متبوع ومقتدی است نه مقلد و دنباله رو ـ پس در چنین صورتی تقلید دیگران چگونه زیبنده و درخور انسان است .

و منها ان یکون شدید التوقی من محدثاة الامور وان اتفق علیه الجمهور خلایغرنه اطباق الخلق علی ما احدث بعد الصحابة رضی الله عنهم (احیاء العلوم)

یکی از جملهٔ اوصاف عالم این است که همیشه او (عالم) از محدثات امور برحذر و دور باشد ولواینکه همگی به «عمل بأن» متفق باشند ، هیچگاه براجماع خلایق بعد از صحابهٔ کرام غره و فریفته نه شود ، بخاطریکه این (اجماع خلائق) بزرگترین فریب و انحراف است .

فان الناس راؤ را یا فیما هم فیه لمیل طباعهم الیه ولم تسمح نفوسهم بالاعتراف بأن ذالك سبب الحرمان من الجنة فادعوا انه لاسبیل الی الجنة سواهما .

جان سخن اینکه این اقوال (مذکور در فوق) و مانند این ها هزاران قول دیگر طوری است که از آنها قباحت و زشتی اجماعیکه مستند آن کتاب و سنت نباشد هویدا و نمودار میگردد .

د روژې د مبارکې میاشتې فضیلت

روژه د اسلامی میاشتو په لست کی لوړ او ارفع مقام لری او د دغی بختوری میاشتی فضیلت پخپله د قرآن عظیم الشان په متن کی ځرگندیږی :

الله تعالی فرمائی :

شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن
هدی للناس و بینت من الهدی والفرقان
(البقره)

یعنی رمضان هغه میاشت ده چه قرآن پکی نازل شوی دی چه د ټولو انسانانو لپاره د هدایت لار ده او په داسی واضحو تعلیماتو مشتمل دی چه سمه لاره ښودونکی او د حق او باطل ترمنځ ښکاره فرق کوونکی کتاب دی .

د رمضان میاشت هغه میاشت ده چه د یوی شپی عبادت ئی د زرو شپو له عبادت نه افضل دی او هر ماښام ئی تر سهاره سلامتی سلامتی ده یعنی د هیڅ ډول شر او ضرر امکان په کښی نشته ، ځکه د الله تعالی د ټولو فیصلو انجام او عاقبت بالاخره نیکی ده او په هغو کی کوم ناوړه هدف مضمر نه دی . تردی چه که د یو ملت د تباهی فیصله کیږی نو هغه هم د خیر په مقصد وی نه د شر لپاره ، او دغه شپه د «لیلة القدر» شپه ده چه له ټولو شپو ارزښتناکه شپه ده او په دغه وجه دی میاشتی ته دا فضیلت حاصل دی چه د انسان نیك اعمال د هغه لپاره دځو چنده زیات اجر او ثواب موجب کیږی . لکه څنگه چه سید المرسلین صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : که په دی مبارکه میاشت کی څوك الله ته د نژدی والی لپاره په خپله

خوښه نفل اداء کړی ، هغه ته به د نورو میاشتو د اویاو فرضونو برابر ثواب ورکړی شی .

دغه شان په یوه روایت کی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د رمضان د میاشتی د عظمت او برکت د بیانولو په ترڅ کی و فرمایل : «کله چه د رمضان لومړی شپه رارسیږی ، نوشیاطین او سرکش جنات تړل کیږی او د دوزخ ټولی دروازی بندیږی او د جنت ټولی دروازی خلاصیږی او یوه دروازه به ئی هم تړلی نه وی او د الله تعالی منادی به غږ کوی چه ای د خیر او نیکی غوښتونکیه ! وړاندی راځه . او ای د شر او بدعمل مرتکبه و دریږه . او د الله تعالی له طرفه به نافرمانو بندگانو ته له دوزخ څخه د خلاصون اعلان کیږی او دا کار د رمضان المبارک په هره شپه کی سرته رسیږی » . (ترمذی)

یوځل حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایه : «دا هغه میاشت ده چه د مؤمن روزی پکی پراخیږی او د دی میاشتی لومړی عشره رحمت ، دوهمه ئی مغفرت او دریمه ئی له جنهم څخه د نجات وسیله ده .

په روژه کی د گناهونو د سوځیدلو او محو کیدلو ډیر قوی اثر موجود دی . همدغه وجه ده چه د رمضان المبارك معنی د «سوځیدونکی» د کلمی مترادف ده یعنی دا چه رمضان گناهونه سوځوی اوایره کوی ئی او وجه ئی داده چه بنده د خپل خالق د حکم په پیروۍ خپل بنیادی خواهشات ترپښو لاندی کوی . په یو مبارك حدیث شریف کی راغلی دی چه الله تعالی فرمائی : روژه زما لپاره ده اوزه به ئی پخپله اجر ورکوم .

هغه روژه نیوونکی چه د روژی په ځانگړی اهمیت او فضیلت خبروی ، خپله روژه یوازی د خولی په تړلو پوری نه محدودوی ، بلکه خپله ژبه به هم روژه ساتی ، غوږونه به ئی هم روژه وی ، لاس به ئی هم روژه وی او د بدن هرغړی او حتی شعور او احساس به ئی هم د روژی پابند وی . د روژی لوړ هدف هغه وخت تحقق مومی چه روژه په شعور او احساس سره ونیول شی . د ټولو مکروهاتو نه ځان وساتل شی . حقیقی روژه داده چه قلب او روح بیا خپل ټول استعدادونه د الله تعالی له نافرمانۍ څخه بچ وساتل شی او بیا د خپل نفس ټول بد او ناوړه خواهشات تر پښو لاندی کړی شی .

نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل

وفرمایل : کله چه روژه نیسی ، نو لازمه ده چه خپل غوږونه ، خپلی سترگی ، خپله ژبه ، خپل لاس او د بدن ټول غړی به د الله تعالی د ناخوښو کارونو څخه ساتی .

د روژی اصلی هدف اوغایه د انسان تقوی او پرهیزگاری ده ، دغه شان چه روژه د انسان لپاره جسمانی گټی لری ، له هغو څخه څوچنده زیاتی روحانی فایدی پکی مضمری او د اخروی فلاح او رستگاری وسیله ده . روژه د دی لپاره هم فرض شوی ده چه :

ولتکبر والله علی ما هدئکم ولعلکم تشکرون .

یعنی کوم هدایت چه الله تعالی ورباندی تاسو سرفرازه کړی یاست په هغه باندی د الله د کبریائی اظهار او اعتراف وکړی او شکر وباسی .

که د روژی حقیقت ته ځیر شو ، دغه لوړ فضیلت او اهمیت ورته څکه ورکړل شوی چه روژه په انسان کی بی شمیره جامع صفات پیدا کوی او دا هغه صفات دی چه انسان وربانډی د روحانی ، جسمانی او اجتماعی مفاسدونه خلاصیږی او دنیوی او اخروی نیکمرغی ئی په برخه کیږی . د روژی ترټولو لویه گټه داده چه په انسان کی د تقوی روح ژوندی کوی او د تقوی د دغه روح د بقا لپاره روژه فرض شوی ده . دغه حقیقت د قرآن عظیم الشان په متن کی د روژی د هدف د بیانولو په ترڅ کی بیان شوی (لعلکم تتقون) .

په روژه نیونکی انسان کی ټول اخلاقی مفاسد لکه غرور ، تکبر ، انانیت ، خود خواهی ، فریب ، دروغ ، خیانت ، بی حیائی او فحاشی له منځه ځی او د هغو په ځای دده په وجود کی اخلاص ، عجز او انکسار ، صبر ، الوالعزمی ، اخوت او محبت ، د دین سره مینه او د خدای او رسول د اطاعت جذبه ژوندی کیږی . په دغه مبارکه او پرفیضه میاشت کی د الله تعالی د رحمتونو ، برکتونو او عظمتونو سمندر په غورځنگونو راځی او هر چاته دا فرصت په لاس ورځی چه له دغه بهانده سمندر څخه د برکتونو ، رحمتونو او سعادتونو مرغلری راپورته کړی .

د روژی حکم هم د اسلام د نورو احکامو په شان په تدریج سره نافذ شوی دی . پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لومړیو وختونو کی مسلمانانو ته په میاشت کی د دریو روژو دنیولو توصیه وکړه ، خو دغه روژی فرض نه وی ، وروسته په دوهم

هجری کال د رمضان د میاشتی د روژو حکم صادر شو اوو فرمایل شول چه :

یایها الذین امنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون .

خو په دغه حکم کی دومره مراعات ورکړل شوی ؤ چه که څوك د روژی د نیولو استطاعت او توان ولری او بیاهم روژه ونه نیسی ، نو د هری روژی په مقابل کی دی یوه مسکین ته ډوډۍ ورکړی . وروسته دوهم حکم نازل شو او دغه عمومی رعایت پکی منسوخ اعلان شو ، خو بیاهم د ناروغ ، مسافر ، حامله او شیدی ورکوونکی میرمن او هغه بوډاگان او عمر خوړونکی چه د روژی دنیولو توان نه لری لپاره دغه مراعات په ځای باقی پاتی شو او حکم ورته وشو چه کله موچه د عذر وخت تیر شو او توان مو پیدا کړ قرضی روژی ونیسی .

د سفر په حال کی روژه نیول او نه نیول د انسان اختیار ته پری ښودل شوی ده . د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره چه کوم صحابه کرام د سفر ملگری وو ، چابه پکی روژه نیوله او چابه نه نیوله او یوی ډلی به په بلی باندی هیڅ ډول اعتراض هم نه درلود . پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله په سفر کی روژه نیوله او کله به ئی نه نیوله . د یو سفر په ترځ کی یو تن مسافر له حاله ولوید او بی هوشه شو ، خلك وربانډی راغونډ شول ، پیغمبر علیه السلام د دغه حال په لیدلو سره تپوس وکړ څه چل دی ؟ خلکو ورته وویل داسړی روژه دی . پیغمبر علیه السلام وفرمایل دا نیکی نه ده .

د جگړی او غزا په وخت کی به ئی حکماً مجاهدین له روژی نیولو څخه منع کول ، ترڅو د دښمن په وړاندی بی وسی او کمزوری نه شی . له حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چه مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ملگرتیا دوه ځل په رمضان المبارك کی جگړی ته تللی یو ، لومړی ځل د بدر په غزاکی او وروستی ځل د فتح مکی په وخت او دواړه ځله مو روژه نه وه نیولی . د ابن عمر بیان دی چه د مکی د فتحی په وخت پیغمبر علیه السلام وفرمایل : له دښمن سره مقابله پیل کیږی روژی ماتی کړی ، تر څو د جنگ قوت در پکی پیدا شی .

مولوي جميل الرحمن د دعوت له خبريال سره په مرکه کې:

د افغانستان په آزادو سيمو باندې د قبائلي قوانينو خادر خپور دی نه د اسلامي قوانينو.

عبوري حکومت د افغانستان په يوه لوېشت ځمکه کې هم د امنيت د ټينګښت او د جهاد د پياوړتيا صلاحيت نه لري.

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة افغانستان امير محترم شيخ جميل الرحمن د جهاد د اوسنی وضعی او د افغانستان د عمومی حالاتو په باب د «دعوت» خبريال ته په يوه مرکه کی وويل :

نن سبا په افغانستان کی روان عمومی حالت د هربا درد او بااحساس مسلمان لپاره د زيات تشويش او انديښنی وړدی . يو طرفته که د افغانستان جهادی تنظيمونو په سياسی ډګرکی د خپلی بی اتفاقۍ او خود خواهی په وجه خپل حيثيت او مقام ته صدمه رسولی او نړيوال ذهنيت ئی د دی مقدس جهاد په باب دومره مغشوش او ګډوډ کړی چه د روسانو له وتلو وروسته اوس په نړی کی دا انګازی خوری دی چه ګوندی افغانستان د کورنۍ جګړی په اور کی سوزی او نړی ورسره بايد همدردی او خواخوږی و نه کړی مګر بل طرفته د جهاد د نظامی ډګر حال دا دی چه د روسی پوځونو له وتلونه وړاندی عمومی اټکل داسی ؤ چه د روسانو وتل او په کابل کی د کمونيست رژيم سقوط او راپرزيدل ئی سره غوټه ګڼل او د کمونيست ګوند بقائی يوازی د روسی پوځونو په موجوديت کی

گڼله مگر د روسی پوځونو له وتلو وروسته دغه ټول اټکلونه خطا وختل او دا دی د یو کال نه زیات وخت تیریږی چۀ د کابل ملحد او ظالم حکومت لاهماغسی د روسی مشاورینو تر قوماندی لاندی او د روس د نظامی او اقتصادی مرستی په اتکا د افغانستان په مظلوم ولس باندی د جبر او وحشت اسمان لاځونیزی نورهم راښکته کړی دی او د ولایاتو په مرکزونو او لویو ښارونو باندی ئی منحوسی منګولی ښخی کړی دی اولا نورهم دوسعت طلبی لپاره هلی ځلی کوی .

بل طرفته د جهاد د مقدسی جګړی قوماندانان دی چه د جنګ جګړی په ډګر کی ئی په ډیر شهامت او میړانه د روسانو خوله په خاورو ډکه کړه او د شرموونکی ماتی او رسوائی سره ئی مخامخ کړل مگر د روسانو له وتلو وروسته ئی د جهاد په مقابل کی خپل اسلامی رسالت لکه څنګه چه ښائی نه دی ادا کړی بلکه ټول وخت په آزادو سیمو کی په حکومت کولو او د عشر او جریمو په راغونډولو تیروی او د جهاد د پرمختګ لپاره فکر نه کوی . د دی کار یوه رجه داده چه زموږ زیات شمیر قوماندانان له اسلامی تعلیماتو نه بی برخی دی ، هغوی داسی فکر کوی چه منطقه ئی آزاده ده نو په جهاد پسی ولی پښی لوڅی کړی ، دوی د جهاد د تداوم او استمرار لپاره اسلامی تعلیمات نه لری او د جهاد په اسلامی ارزښت پوره خبر نه دی . دغه وجه ده چه په آزادو سیمو کی زیات کړکیچونه او شخصی تربګنی او دښمنی راپورته شوی او ټول کارونه بیله دی چه د مرکزی قوماندی او هدایت په اساس اجرا شی په خود سرانه او مطلق العنان ډول اجرا کیږی . نن سبا د افغانستان په آزادو سیمو باندی د قبایلی قوانینو څادر خوردی نه د اسلامی عدل قانون .

د روسانو له وتلو وروسته په پاکستان کی موجود اوه تنظیمونه چه د خپل منځی افتراق او شقاق په وجه ئی د مقدس جهاد د سیاسی او نظامی مشکلاتو او بدبختیو اسباب او موجبات برابر کړی دی ، د پاکستان د حکومت تر نظارت او توجه لاندی سره راغونډ او د عبوری حکومت اعلان ئی وکړ . د مهاجرینو او مجاهدینو امید او آرزو داوه چه دا حکومت به زموږ د ټولو مشکلاتو او بدبختیو د ازالی صلاحیت ولری او مقدس جهاد به دیوی واحدی قوماندی لاندی د خپل پرمختګ او

ترقۍ پړاوونه ووهی او د عبوری حکومت مسئولین به ددی په ځای چه امریکا او آروپا ته سفرونه وکړی ، د جهاد د جګړی د سنګرونو قیادت به په خپل لاس کی واخلی او په دی ډول به د واحد اسلامی قیادت مسؤلیت او فرایض د عمل په ډګر کی سرته ورسوی او په آزادو سیمو کی به د اسلامی آمارت او قیادت یو داسی نمونوی او مودل بنسټ کیږدی چه د ټول افغانستان په سطحه به د عمومی اسلامی قیادت د تشکیل لپاره پری د خلکو د امیدونو غوټی و غوړیږی او د آزادو سیمو مسلمانان به داوسینو بدبختیو څخه خلاص کړی ځکه لکه څنګه چه می وړاندی وویل نن په آزادو سیمو کی نه دانصاف تامین شته نه د عدالت ، نه احسان شته او نه رحم او عاطفه ، نه امنیت شته او نه د غربت او فقر خاتمه .

خو په ډیر تأسف سره باید ووایم چه د موقت حکومت واکدارانو د مقدس جهاد او مجاهدینو ، دردیدلو مهاجرینو او د جهاد د جګړی د شهیدانو او د هغوی د کونډو او یتیمانو په وړاندی خپل ټول مسؤلیت او فرایض د پاکستان او غربی نړۍ ترمنځ د بی فایدی صلاح مشورو ، خارجی هیوادو ته له عیش نه په ډکو سفرونو او یا د رو-افضو د ارضا په خاطر ایران ته په منډو رامنډو کی خلاصه کړل او یا دا چه د بی کارۍ په وخت کی سرحدی سیمو ته لاړ شی او څوتنه انګریزی او پاکستانی ژورنالستان او فلمبرداران دعوت کړی او د فلمبرداری په کیمرو کی خپلی ځیری ثبت کړی او نړی ته ځان وښائی چه ګوندی د عبوری حکومت غړی د افغانستان په داخل کی مصروف دی .

بل خواته ئی حکومتی تشکیلات زیات پراخ او په پیښور کی ئی د مدرنو او عصری دفترونو په جوړولو او د اوچتو معاشونو په ورکولو او نورو ګزافو مصارفو سره چه په عادی حالاتو کی هم دیو نوی جوړ شوی حکومت سره نه ښائی ، اکتفا وکړه او د شهیدانو د کونډو او یتیمانو او معذورو او معلولو مجاهدینو د ژوند دسمښت او سمبالښت لپاره ئی هیڅ ډول پالیسی خپله نه کړه .

عبوری حکومت د غربی نړۍ او امریکا سره زیاتی صلامشوری پیل کړی او د رافضینو دا رضا لپاره ئی ایران ته منډی رامنډی ووهلی ، ددی کار معنی داده چه د افغانستان مسأله باید د سیاسی لاری حل و

فصل شی او جهاد باید له یاده وباسو . او یا دا چه مسأله له اول نه د سیاسی روغی جوړی له لاری حل شوی وای او جهادی لاره باید نه وای اختیار شوی ، بلکه که په صراحت ووایو د عبوری حکومت سیاست داسی ښکاره کوی چه گوندی د افغانستان مؤمن او مجاهد ولس په خپل دولس کلن جهاد باندی ستړی اوپښیمانه دی . دا حکومت سره له دی چه دافغانستان په یوه لویشت ځمکه کی هم د حالاتو دسمښت او د جهاد د قوت صلاحیت او اهلیت نه لری خو بیاهم ځان دافغانستان د سرنوشت ټاکلو واکدار گڼی اود هیڅ ولایت خلکو ته دا حق نه ورکوی چه د خپل حیاتی ضرورت او شرعی مسئولیت په خاطر سره یو موټی شی ، په خپل ولایت کی د مجاهدینو واحده اداره جوړه کړی او امنیت تأمین کړی او د جهاد د پیاوړتیا له پاره قدم پورته کړی . کله چه مجاهدینو او د جهاد خیر خواهانو د جهاد په گټه او د خلکو د روا حقوقو د اعادی او په سیمه کی د امنیت د تأمین او ټینگښت لپاره گام پورته کړی ، عبوری حکومت ئی دلاری خنډ شوی او د لالچونو او دسیسو له لاری ئی د اصلاحی پروگرامونو د تطبیق مخه نیولی ده چه د دی خبری ډیر ښه مثال د کونړ د ولایت مثال وه چه هرچاته ډیره ښه ښکاره او په حقیقت ئی هر څوک ښه خبر دی .

او همدغه غلط سیاست او پالیسی وه چه په افغانستان کی ئی د پخوانیو بدبختیو سره د نورو زیاتو مصیبتونو او کړاوونو دروازی هم خلاصی کړی دی .

عبوری حکومت باید د نورو ولایاتو حالات که د جهادی لاری ئی له وسی پوره وه او که د سیاسی لاری‌ئی توان درلود ، په خپل کنټرول کی راوستی وی ورروسته به د کونړ د ولایت په مسأله خبری شوی وای . مگر د دسیسو او لالچونو له لاری د مجاهدینو ترمنځ بی اتفاقی اچول او په یو آزاد ولایت کی چه میړنیو خلکو ئی یولس کاله د روسی وحشت او ظلم سره په شهامت او میړانه مبارزه وکړه ، د امنیت د ټینگښت پروسه تخریبول د اسلامی پرنسیپونو او اصولو منافی دی .

دوی باید په غور او دقت سره مسایل تحلیل کړی ، د مسألی هرجهت چه د اصلاح وړوی هغه اصلاح کړی او د نورو جهتونو د اصلاح لپاره کوشش وکړی نه دا چه ووائی ټولی مسألی حل نه شوی ، نو راځی چه اصلاح شوی مسألی هم تخریب کړو .

پاتی په (۴۶) مخ کښی

آغاخان د اسلام او افغانستان دښمن دی که دی له خپل شیطاني پلان نه لاس وانخلي مونږ به په آزادو سیمو کښي د ده پروګرامونه په ټپه ودرو

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة مشر محترم مولوی جمیل الرحمن ، د افغانستان له پاره د ملګرو ملتو د مرستو د انسجام د آمر صدر الدین آغا خان د هغی وینا په باب چه نوموړی څو ورځی وړاندی په واشنګتن کی د جورج تون د پوهنتون د بین المللی ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کی د افغانستان دقضیی په باب وکړه ، د دعوت خبریال ته په مرکه کی وویل :

د دغه ډول بیاناتو اوریدل د آغا خان له خولی نه چه دی او کورنی ئی د اسلام او افغانستان سره د نه پخلا کیدونکی دښمنی اوږد تاریخ لری ، څه د تعجب او حیرانتیا خبره نه ده . یوازی دانه چه د آغا خان خبری د اسلام او جهاد په پاك حریم باندی حمله او تیری دی ، بلکه په افغانستان کی «د مرستو دانسجام» په نوم دهغه فعالیت هم زمونږ په اسلامی هیواد کی د اسماعلیت او لادینیت د پراختیا لپاره د هغه مذموم کوښښ دی . آغا خان او د هغه دارو دسته غواړی چه د جهاد دغه ټاټوبی یعنی افغانستان داسی تجزیه او تقسیم شی چه بیا تری د الله اکبر غږ پورته نشی او په زیاته برخه باندی ئی د اسماعلیت توره پرده وغوړیږی او د روسی اشتراکیت او الحاد په ځای په کی د

پاتی په (۴۲) مخ کښی

د تنظیم طلبهٔ سلفیه د کارکنانو لپاره د مرکزي دفتر پیغام

د تنظیم طلبه سلفیه د مرکزی شوری د فیصلی مطابق د طلبا ؤ د مسائلو د حل لپاره د پاکستان په داخل او په افغانستان کی نوی دفترونه پرانستل شوی . تیره میاشت د تنظیم طلبه سلفیه مرکزی امیر غنی الله . مسلم ، سره د یو وفد چه پکښی محمد سلیمان محمدی ، احمد شاه او رحیم الله شامل وو ، د پشاور نه کویټی بلوچستان ته په دی غرض روان شول چه د صوبه بلوچستان د طلبا ؤ د مشکلاتو د حل لپاره هلته یو صوبائی دفتر خلاص کړی ، او په خپل دغه مقصد کښی کامیاب هم شول . په کویټه بلوچستان کښی د تنظیم طلبه سلفیه د صوبائی دفتر په افتتاحی خطاب کښی غنی الله «مسلم» وویل : چه طلباؤ داسلامی انقلاب د قیام لپاره همیشه قربانی ورکړی او د هر اول په توگه د حضور د زمانی نه را واخله تر دا اوس پوری د دعوت او جهاد په میدان کښی پیش پیش دی . ده زیاته کړه چه د تنظیم طلبه سلفیه د دفترونو د قیام یواځنی غرض هم دادی چه نوجوان نسل د تعلیم سره سره د جهاد سنگر ته استخدام شی او د طلباء کرامو نظریاتی او عقیدوی روزنه هم وشی ، تر څو خلك صحیح اسلامی عقیدی خواته چه د قرآن او سنت عقیده ده . ترغیب او تشویق کړی . وروسته د تنظیم طلبه سلفیه د صوبائی دفتر بلوچستان لپاره ورور احمد شاه صاحب د صوبائی امیر په توگه و ټاکل شو . دوی په کویټه کښی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة له جهادی قوماندانانو سره لیدل کتل وکړل او په موجوده حالاتو کښی ئی ورسره خبری وکړی .

د دفترونو د افتتاحی تقریباتو په غرض د تنظیم طلبه سلفیه امیر غنی الله «مسلم» د یو وفد سره چه پکښی عبدالرحمن سلفی ، سادات ، مطیع الله او رحیم الله شامل وو ، د افغانستان د کنړ

ولایت ته هم تللی وو ، تر څو هلته هم د طلباؤ د مشکلاتو درفع کولو له پاره یو صوبائی دفتر افتتاح کړی . کومه ځمکه چه اته کاله مخکی د دهریانو او کمونیستانو په واجه کښی وه ، هغه ځمکه نن الحمدلله د مسلمانو مجاهدینو له خوا آزاده کړی شوی ده . په همدی خاطر تنظیم طلبه سلفیه دا فیصله وکړه چه د کنړ د ولایت د طلباؤ لپاره یو دفتر پرانیځی تر څو طلباء خپل ټول مشکلات دهغه ځای له صوبائی دفتر څخه حل او فصل کړی .

د کنړ ولایت ته په رسیدو سره مرکزی امیر دګن شمیر مجاهدینو او د هغه ځای د طلباؤ او د تنظیم طلبه سلفیه د کارکنانو له خوا استقبال کړی شو ، او په استقبالی طور د تنظیم طلبه سلفیه صوبائی دفتر ته بوتلل شو . غنی الله «مسلم» په خپل افتتاحی خطاب کښی د کنړ د ولایت خلکو او طلباو ته وویل چه د کنړ ولایت د تیر یوولس کاله راپه دی خوا د ملحد رژیم تر تسلط لاندی ؤ او هغوی خپل شوم او ناپاك عزایم زمونږ په دغه مقدسه خاوره کښی تر سره کول . هغه وویل چه زمونږ په دغه اوسنی دفتر کښی څو کاله وړاندی د ملحد رژیم کارکنان پراته ؤ ، خو نن الحمدلله د الله په مدد د کنړ د ولایت لپاره د صوبائ امیر په صفت عبدالمالك مالکیار تعین کړ او ورسره ئی دوه نور همکاران عبدالمانع او محمد افضل و ټاکل او دغو ملګروته ئی د کامیابی او د تنظیم د ترقی دعاګانی وکړی . وروسته ئی د خپلو ملګرو سره د کنړونو د محترم والی قاضی احسان الله صاحب په میلمستیا کښی ګډون وکړ او د والی صاحب سره ئی . د تنظیم طلبه سلفیه د مشکلاتو د حل په غرض خبری اتری وکړی او بیا یو څه ملګری د خپلو طلباؤ د لیدو لپاره چه د ګمبیری خط اول ته د جهاد په غرض تللی وو ، ورغلل ، په لاره کښی د باجوړ ایجنسی د تنظیم طلبه سلفیه د امیر جناب انصار الله صاحب جنازه ئی راروانه کړی وه چه د ملحد رژیم په بزو کښی شهید کړی شوی وو . (انا لله وانا الیه راجعون) .

غنی الله مسلم له خپلو ملګرو سره د لاری له نیمائی څخه د شهید انصار الله له جنازی سره باجوړ ته راستون شو او خپل ملګری ئی په ښه شان او شوکت سره خاوروته و سپاره .

دهمدغو دفترو د افتتاحی تقریباتو په سلسله کښی مرکزی امیر غنی الله مسلم د

عبدالحی سلفی په ملگرتیا د پشاور نه ټل ته لاړ تر څو د تنظیم طلبه سلفیه د ضلعی دفتر په افتتاحی تقریب کښی شرکت وکړی .

دا دفتر په ټل کښی د اوسیدونکو طلباؤ د مطالبی په اساس ، د پکتیا ، پکتیکا ، لوگر ، وردگ ، میدان او کابل د ولایاتو د ورونو د مشکلاتو د حل په غرض پرانستل شو ، تر څو د دغه دفتر څخه کوهاټ ، بنو ، ټل او د افغانستان مذکوره ولایات اکمال شی . د دغه دفتر ضلعی امیر نورالدین او خازن بیت المال عبدالحی سلفی وټاکلی شول .

همدارنگه د تنظیم طلبه سلفیه یو بل دفتر په پنجاب صوبه ساهیوال کښی د ضیاءالله شاه بخاری تر صدارت لاندی افتتاح شو . په افتتاحی تقریب کښی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیر جناب مولوی صاحب جمیل الرحمن او د تنظیم طلبه سلفیه مرکزی امیر غنی الله مسلم شرکت کړی ؤ ، په افتتاحی بیان کی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیر جناب مولانا جمیل الرحمن صاحب وویل چه د نړی ټول مسلمانان سره وررنه دی او د یوی واحدی عقیدی لپاره مبارزه کوی ، وروسته ئی د تنظیم طلبه سلفیه د دفتر افتتاح په خپلو مبارکو لاسو سره وکړه .

د طلباؤ د مشکلاتو د رفع کولو له پاره د تنظیم طلبه سلفیه دفاتر موجود دی چه دهغی جملی نه دفتر تنظیم طلبه سلفیه د محصلینو یو دفتر په باجوړ ایجنسی کښی موجود دی چه اکثر په حدود د (۱۰۰۰) زر تنه محصلین د دغه دفتر څخه روزل کیږی او جناب عبدالله صاحب د محصلینو د امیر په توگه خدمت کوی .

نور د تنظیم طلبه سلفیه طلباؤ لپاره یو دفتر په باجوړ ایجنسی کښی موجوددی چه د هغه ځای د مختلفو مدارسو شاگردان د دغه ځای څخه روزل کیږی او د دی امیر جناب شهید انصار الله ؤ چه د ملحد رژیم په بمباریو کښی په شهادت ورسید .

یو دفتر د دیر په تیمرگره کی واقع دی چه د جناب عبدالله صاحب تر نظامت لاندی د تنظیم طلبه سلفیه کارکنان دغلته روزل کیږی . یو دفتر د تنظیم طلبه سلفیه ملاکنډ ډویژن چکدره کښی واقع دی چه د احسان الله امین تر نظامت لاندی خپل فعالیت کوی ، نور په پشاور کښی هم د رفع مشکل په خاطر د مرکزی دفتر نه علاوه په منډا او جلوزو کښی هم د تنظیم طلبه سلفیه

پاتی په (۳۲) مخ کښی

خلافت طبق قرآن و سنت

هـرآن در وضـع دیـن بیجا فتادست
همـان را صـوفـی و مـلانها دست

دل دانـا چـرا گـرداب خون است
زدسـت صـوفـی و روحـانیون است

مسیـر زنـدگـی از دست دادنـد
کـه بـرنـااهل دیـن دربست دادنـد

لـذا هـر وضـع نـاهمواره برماست
تهـی تـوهیـن هـربیگانه بـرمـاست

چـرا خود را به کنج گوشـه کـردید
چـرانیروی خـود بـی پیشه کردید

چـرا هـر اجنبـی درکار بـاشـد
چـرا دیـن پیـش هـرخرکار بـاشد

نبایـد مضحـك هـر ابلـه بـاشیـد
نبـایـد دگـرانـی پلـه بـاشیـد

شمـا آزاده فکـرو زنـده بـاشیـد
نـه تحـت حکـم هـر راننده باشید

تـوای مسئـول دیـن بـار امـانت
چـرا کـردی بـه نـاموست خیانت

چـرا در مکتـب دار الخــلافت
نکــردی درس و تعلیــم وریـاست

کنــد تبلیــغ زهــر اگیــن مـردم
چنــان تــاثیـر نیـش مـارو گژدم

سیـاست گـر بدست جاهل از دین
فتــد بــومـی دهـد مـانند سرگین

اگــرچنـد او دهـدلاف از سیـاست
بــود پیـش سیـاست او خجالــت

سپــس ای طالــب قــرآن و سنـت
خــلافت کــن خــلافت کـن خلافت

کــه زیــرا مقصد از چـوکات دولت
خــلافت طبــق قــرآن است و سنت

تــوای همــراز ایـن بـار امـانت
چـرا کـردی بـه نـامـوست خیانت

چـرا کـردی حقـوقت را فـرامـوش
نکردی اندك از خود جنبش وجوش

بسـا دست عـال دسـت حـاکمانید
اسیــرو قیــد و بنــد عـامیـانید

فـرو افتیــده گان خــواب غفلــت
گــرفتــار دو صــد امراض و علت

به شان و شوکت هر جا کینه کردید
کــه درس ذلــت انـدر سینـه کردید

نــه بــاشد امتیــازی مــر شمـا را
زاحبــار و زرهبـــان نصـــارا

بـدینش هــر چـه بـد رفتار کردید
کلامـش پـرچـه طـومـار کـردیـد

بطـور هنـدسـی تغیـر دادنـد
بردو صد نقش و صد تصویر دادند

بـری هـر نقش از خـود نام کژند
بـه بـازار فـروش اعـلام کـردنـد

کلامـش پرچـه بـر طـومـار کـردند
اسیـری گـردن بیـمار کـردنـد

ببیـن در دیـن چسـان رفتـار بدشد
کـه بـر رسـم کلیسا بـی مد د شد

شمـا خـود مـار زیـر استینید
شمـا خـود دشمنـان در کمینیـد

نکـردی ذره همـکاری بـدینـش
بخیـز ای دشمـن حـق از کمینش

نمیـدانـی که قرآن مقصدش چیست
اگـردانـی وراگـو محرمش کیست

بـود بـرهمـزن سیـلاب قـدرت
زنـد تـا در دل گیتـی حکـومت

کـه تـا بنیاد شرك از ریشه خیزد
جهـان در تحت یـك انـدیشه زیبـد

کـه تـا سـازنـد در گیتـی خلافت
بـر گستـردن نظـم و عـدالت

همـانـا بـرکتـابش اهـل راز است
کـه در افکار شان این امتیاز است

چـه دانـد صـوفـی تومار و تشتاب
بغیر از خـوردن و نوشیدن و خواب

بجز قرآن فروشی کارشان نیست
بغیر از چاپلوسی وارشان نیست

زمردم خورد و برد هرگر گك پير
به صد مکر و به صد نیرنگ و تذویر

منم شیخ ومنم صوفی منم پیر
عوام از مکرشان افتد به زنجیر

تو‌ای مسئول این بار امانت
مده از دست تحریك خلافت

فقیه و عالم و دانا تباه شد
که زان هر اجنبی فرمانرواشد

بیا ای نسل نو در دین فقیه شو
تو دور از مکتب ورسم سفیه شو

تو گرنادان قرآن و حدیثی
یقین در نزد این ملت خبیثی

ازین اندرز و پند خسته سیحون
بگیرد قلب دشمن لخته خون

یا الله

په ځیگرد درد او مینی سوی داغ را
سینه ټوله د معنی د گلو باغ را
دی تیاره سفر کښی لار رانه ورکیږی
ته په لاس د محبت شکلی چراغ را

یو مواجه طبیعت لکه دریاب را
د پاری غوندی ټوپونه اضطراب را
بینوا سره باران په گریوان وکړم
هسی نرم او به زړه لکه سحاب را

توقع نه خدایه طبع بیگانه را
د زړه کور د پاکی مینی کاشانه را
قناعت او استغناء می په نصیب کړه
دانه غواړم د شاهانو سامانه را

زولــــنی دانـــدیــښنو راتـــه پــرتـــی دی
یــو طــوفان د پــاکی مــینی د جــنون را

چـه سره خوا می پری باسی په خمود کښی
دی نـــه شــپی د درد و غــم پــه میرتون را

د تقلـــید زولـــنی مــاتی کــړه زمــونــږ نه
د عـــمل جــذبــو کــښی ذوق د ابــتکار را

فــریــادونــه رســوم بــارگاه د عـــرش تــه
آه د زره تـــه مـــی آســـمانــه لــویه لار را

د ژوندو په صف می شمیر کړه که دانه وی
نیمـــگړی ژوند عوض کښی پوره مرگ را

زه بــه خــولــه د شکایت نــه مــهرلاك کــرم
تــه گلــشن لــه د ژونـدون می ساز و برگ را

چــه راحـــت پــه کــښی د قــوم او جمعیت وی
مـــالــه فخر د آزمـیښت پــه دی کـــراو را

چــه ســـه دی د افـــلاس زمــا په نوم کړه
نـــو پـــه زړه د مـــحبت گانـــه جــراو را

شهید موسی «شفیق»

د آزادی شیبی

زما د ژوند سیمه ئی لاندی کړله
پری را خوری شوی خونړی توری شپی

په ویر ئی ولړلی سرتر پایه
زما د ژوند د هیلو ډکی شیبې

شپی دی او شپی دی پسی شپی دی شپی دی
یوه په بل پسی لگیادی راځی

د تورو شپو او سپینو شپو زنځیردی
تولی تیاری ـ تیاری بیا ـ بیادی راځی

که لمر سپوږمی ده او که ستوری لری
په وینو ډوب دی رڼائی ئی نشته

ساتونه گرځی گړی هم ډکیږی
شپه پسی شپه ده سبائی ئی نشته

خود حق نور راته دا زیری کوی
چه ژر به څیره د سبا راځی

د سره وحشت دا تور کابوس به نه وی
په ملك به هره خوا رڼا راځی

د شهید وینه به رنگونه راوړی
د امید و گلان به وغوړیږی.

د غازی توره به رڼا وکاندی
د آزادی شیبې به ورسیږی

د «جماعة الدعوة» د فرهنګي چارو له رئيس ښاغلي مولوي غلام محمد «غريب» سره مرکه

په پيښور کښی د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د فرهنګی چارو رئيس ښاغلی مولوی غلام محمد «غريب» څو موده وړاندی د قندهار ولايت ته د يوه اوږده سفر نه وروسته پيښور ته راورسيد .

دالدعوة د جريدی خبريال له ښاغلی مولوی صاحب غلام محمد «غريب» سره د ده د وروستی سفر په هکله مرکه کړی چه دادی محترمو لوستونکو ته وړاندی کيږی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب ! ستاسو وروستی ناڅاپی سفر قندهار ولايت ته د څه مقصد د پاره وو ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحيم زما سفر قندهار ولايت ته د دغو مطلبو لپاره ؤ ، چه په لاندی ډول ذکر کيږی :

الف : د قندهار دولايت د بولدك او معروف په ولسواليو کښی د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د تنظيم په نامه د شرعی محکمو د تاسيس او جوړولو هدف ، ترڅو په دی وسيله د خپلو جهادی او ولسی مشکلاتو د حل مرجع مستقل جماعت ځان لره ولری .

ب : د قندهار د ولايت په دولتی او نظامی مامورينو کی د ارتباطاتو د مثبتونتايجو د ترلاسه کولو موضوع او هدف .

ج : دخپلو جهادی قوتونو د تنظيم او انسجام هدف .

پوښتنه : د قندهار د ولايت مجاهدينو ستاسو په رهنمائی د کمونست رژيم په قواو باندی يولړ عمليات ترسره کړی ؤ ، که مهربانی وکړی د دغو عملياتو په باب په تفصيل سره څه ووائی خوشحاله به شو ؟

ځواب : مونږ خپل څو تنه مجاهدين د دولت قطعاتو ته دستوری استولی وو ، هغوی په خپل ايمان او جهادی قوت سره وکولای شول چه د دولت يوه قوی پوسته چه د (دو خاك) په نامه ياديدله ټوله د

خپلو سپکو او درندو وسلو اونورو فوځي مهماتو سره تسليم کړه چه په کښي يو عراده فوځي موټر ، يو موټر سايکل ، لس (۱۰) ميله کلاشنکوف ، څلور توفنگچې ، يو ميل زيگو يك ، يو ميل گرينوف او نور مختلف النوع سامان شامل ؤ ، د ځانه سره راوړل او دولس تنه دولتي کمونستان او د خاد غړي ئې مردار کړل .

همدارنگه مونږ د قندهار په ولايت کښي د دارنگه نورو عملياتو منتظر يو چه انشاءالله ډير ژر به صورت ونيسي .

پوښتنه : دشهنواز تني اوسني کودتا د قندهار د ولايت د مجاهدينو په منځ کی څه عکس العمل څرگند کړ ؟

ځواب : د شهنواز تني کودتا د قندهار د ولايت په مجاهدينو کښي تر اوسه صرف دا کار کړی چه د هغه ولايت مجاهدين يې بيدار او متوجه کړل ، تر څو خپل عمليات د دښمن په مقابل کښي تندو تيز کړي او دا کار د کودتا سره سم شروع شو .

پوښتنه : د قندهار په ولايت کښي د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د مجاهدينو حالات څه رنگه بيانوی ؟

ځواب : د قندهار په ولايت کښي د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة تنظيم د مجاهدينو حالات په فعلي شرايطو او اوضاع کښي ډير ښه او فعال روان دی ، د پخوا په نسبت يې د حل و فصل په باب خپلی مستقلي محکمی او شوری گانی فعالی کړی دی .

د ولايت د نورو مجاهدينو سره يې اتحاد ، اتفاق او په گډ تصميم کښي شرکت او سهم شته ، تعلقات يې د نورو مجاهدينو سره داخوت پر اوصولو ولاړ دی .

پوښتنه : د خلق او پرچم تر منځ د وروستي خونړی جگړی نه وروسته په قندهار کښي د دولتي قواؤ نظم څنگه دی ، او آيا په يو بل اعتماد کولی شی ؟

ځواب : د اوسني کودتا نه راپديخوا د خلق او پرچم په منځ کښي وضع دبی اعتمادی ده ، نفاق او شقاق روزافزون روان دی . د کودتا راپدی خوا تر اوسه به دری سوه خلقيان د پرچمي کمونستانو له خوانيولی شوی او بنديان شوی وی ، اعتماد ئی مطلق په يو او بل سلب دی .

ددی وضعی څخه مجاهدينو ته دا استفاده او زمينه برابره ده چه ، په هغوی باندی خپل عمليات تيز او پيش قدمی وکړی .

پوښتنه : په قندهار او خوا ؤ شا سيمو باندی د عبوری حکومت تاثيرات څه دی ؟

ځواب : په قندهار کښې د عبوری حکومت وضع صرف د کاغذ او برای نام په صورت کښې قرارلری . ملت او مجاهد قوتونه دپردیو د حکومت په سترګه ورته ګوری . په قندهار کښې د عبوری حکومت سره د ملت هیڅ پشتیبانی نشته ، ټول ملت او مجاهد قوتونه د یو نوی تحول په انتظار دی .

د (۲۲) مخ پاتی

د تنظیم طلبۀ سلفیه د کارکنانو . . . .

دفاتر موجود دی . دغه ټول دفترونه د مرکزی دفتر تنظیم طلبه سلفیه له خوا چه په ارباب روډ کښې موقعیت لری اکمال کیږی او خپل ملګری د اسلامی انقلاب او د اسلامی نظام د نفاذ په خاطر او د اسلامی حکومت د قیام لپاره روزی او د دعوت له دندی سره سره ئی د جهاد سنګر ته هم استخداموی .

دالهی ارشاداتو او نبوی لارښوونو داورېدلو ضرورت نن سبا زموږ په جهادی سنګرونو کی ډیر زیات احساسیږی . زموږ مجاهدین باید د دښمن سره دمقابلی په څنګ کی له علماو څخه د قرآنی ارشاداتو نبوی لارښوونو د زده کړی او اورېدو تصمیم هم و نیسی .

(شیخ جمیل الرحمن)

د بدر غزا

اسلامی غزاگانی

د روژی میاشت دوهم هجری کال

په اسلامی تاریخ کی لیکل شوی دی چه پاك خدای د دوهم هجری کال د صفری د میاشتی په دوهمه نیته مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړه . د دی خبری د سند د پاره دامام زهری دا نقل ډیر مشهور دی چه وائی :

اول آیته نزلت فی الاذن بالقتال اذن للذین یقاتلون بانهم ظلمو او ان الله علی نصرهم لقدیر .

یعنی هغه لومړی آیت چه د جنگ د اجازی حکم په کی مسلمانانو ته ورکړی شوی دادی : «اذن للذین الخ» یعنی د چا سره چه جنگ کیږی (مسلمانان) هغوی ته هم اوس د جنگ اجازه ورکول کیږی ځکه چه په دوی ظلم او تیری کیږی او الله تعالی بیله شکه د دوی په مرسته قادر دی . په ځینو تفاسیرو کی راغلی دی چه د جگړی په لړکی د اجازی لومړی حکم د «قاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلونکم» په مبارك آیت کی ورکړل شو .

که دغو آیتونو ته په غور وکتل شی د هغو خلکو سره پکی د جنگ اجازه ورکړی شوی ده چه هغوی وړاندی له وړاندی د مسلمانانو په خلاف د جنگ لام تړلی دی نو مسلمانانو ته حکم وشو چه تاسو هم د دغو

خلکو په خلاف وجنګیږی . حقیقت دادی چهٔ مدینی ته له راتګ نه وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم لومړی کار دا ؤ چه د خلکو د خپلواکی د ساتنی لپاره فکر او تدبیر وکړی . دا کار یوازی د مهاجرینو له پاره نه بلکه د انصارو له پاره هم ؤ ځکه قریشو په دی ګناه چه انصارو مهاجرینو او نورو مسلمانانو ته پناه ورکړی ، د مدینی د بربادولو فیصله کړی وه او په خپلو ټولو ملګرو قبیلو کی ئی د مسلمانانو د دښمنی اور بل کړی ؤ . د دوی د دغو ناپاکو ارادو په مقابل کی محمد صلی الله علیه وسلم دوه تدبیرونه غوره کړل . لومړی داچه د قریشو په مخ باید د شام د تجارت لار وتړل شی ترڅو روغی سولی ته غاړه کیږدی . دوهم دا چه د مدینی د شاو خوا پرتو قبیلو سره دی د امن او امان یو تړون لاسلیك شی .

د لومړنی تدبیر د عملی کیدو لپاره د بدر له غزانه وړاندی د مکی په لور دسلو سلو او پنځوسو پنځوسو تنو ټولګیو لیږدونه پیل شوه .

سیرت پوهانو د دغو لیږ دونو مقصد داسی ښودلی چه د قریشو د تجارتی قافلو مخه ونیسی یعنی د حضرت سعد دهغه ګواښ سره سم چه په مکه کی ئی ابوجهل ته ورکړی ؤ ، چه په قریشو به د شام د تجارت لار وتړی . د اسلام مخالفین وائی چه د دی کار په وجه اصحابو ته د لوټ مار او تالان زده کړه ورکول کیده . مګر د دوی دا تومت کاملاً په جهل او ناپوهی ولاړ دی ځکه اول خو په اسلامی شریعت کی لوټ مار او تالان سخته ګناه ده او بله دا چه تاریخ ته باید پاملرنه وشی او محض د اسلام سره د عناد په وجه په پټو سترګو تومت و نه لګول شی . آیا دوی د تاریخ په استناد داسی کومه واقعه بیانولی شی چه په فلانی ځای کی اصحابو قافله لوټ کړه ؟ دریمه دا چه که ددی ډاکو اچولو مقصد یوازی لوټ او تالان وی نو آیا دا مقصد ورته د قریشو د تجارتی قافلو څخه پرته په بله لار لاسته نشو ورتلای ؟

په شاو خوا قبیلو کی ترټولو لومړی جهینه نومی قبیلی ته یو هیئات ولیږل شو دا قبیله د مدینی نه دری منزله لیری پرته وه او غرونه ئی تر لرو لرو ځایو پوری غزیدلی وو . د دوی سره داسی تړون وشو چه د دواړو خوا ؤ سره به یو شان تعلقات ساتی یعنی له دواړونه به جلا او بیطرف حیثیت اختیاروی .

بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مدینی نه بهر ابواء ته لاړ. د دغه ځای مرکز فرع نومیږی چه یو لوی کلی دی او مزنیه نومی قبیله پکی آباده وه د مدینی نه تقریباً اتیا میله فاصله لری او د مدینی وروستی سرحد دی. په دغه شاو خوا کی بنو ضمره نومی قبیله آباده وه او دا ټؤلی سیمی د دوی د حکومت په قلمرو کی شاملی وی. دلته محمد صلی الله علیه وسلم څو ورځی تیری کړی او د بنو ضمره سره ئی معاهده وکړه د دغی معاهدی ټکی ..ا دی.

«دا بنو ضمره ته د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لیك دی. ددوی خلکو ځان او مال به محفوظ وی او ځوك چه په دوی حمله کوی د هغه په مقابله کی به مسلمانان د دوی مرسته کوی پرته له هغه صورت څخه چه دوی د دین په مقابل کی جګړه کوی او پیغمبر چه کله دوی د ..رستی له پاره راوغواړی نو دوی به د ..رستی لپاره راځی.

بدر د یو کلی نوم دی چه کال په کال ..ه کی میله جوړیږی او له مدینی نه اتیا میله فاصله لری. قریشو د نبوی هجرت سره ..سم په مدینه باندی د حملی په تیاریو لاس پوری کړی ؤ. قریشو عبدالله بن اوبی ته په یو خط کی لیکلی وو چه یا محمد صلی ..لله علیه وسلم مړکړی او یا به مونږ مدینی ..ه درشو او د هغه سره به تاسو هم فیصله ..کړو.

د حملی د پاره د ټولو نه ضروری شی د جنګ دلګښتونو برابرول وو. له دی کبله د دوبی په موسم کی چه د قریشو کوم کاروان د شام په تجارت روان شو، دومره شان او شوکت ئی درلور چه د مکی د ټولو او سیدونکو مال دولت پکی راجمع شوی ؤ.

د قافلی دروانیدو نه وړاندی یو طرفته د حضرمی د قتل واقعه رامخ ته شوه چه په نخله کی د مسلمانانو له خوا وژل شوی ؤ چه دغی پیښی د قریشو د قهر او غضب د اورلمبی نوری هم زیاتی کړی او بل طرفته دا غلط خبر هم په مکه کی خپور شو چه مسلمانان د قافلی د تالاکولو لپاره را روان دی، د دی خبر په اوریدو د قریشو د غیظ او غضب توری وریځی په ډیره بیړه د عربو په ټوله فضا کی خپری شوی. کله چه محمد صلی الله علیه وسلم له دی حالاتو نه خبر شو، نو ټول اصحاب ئی راټول کړل او دغه پیښه ئی ورته بیان کړه. حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) او نورو

اکابرو صحابه ؤ له غیرت او شجاعت نه ډکی ویناګانی وکړی خو رسول الله صلی الله علیه وسلم انصاروته کتل ځکه چه انصارو د بیعت په وخت کی یوازی دا اقرار کړی ؤ چه مونږ به په هغه وخت کی توری ته لاس کوو چه دښمن په مدینه راوخیژی . په دی وخت کی سعد بن عباده (رضی الله عنه) (د خزرج نومی قبیلی سردار) پورته شو او وئی ویل : «آیا ستاسی اشاره مونږ ته ده ؟ زمونږ دی په خدای قسم وی چه که تاسو مونږ ته حکم وکړی خپل ځانونه به سمندر ته وغورزوو .» (مسلم)

په بخاری شریف کی راغلی دی چه مقداد وویل : «مونږ به د موسی د قام غوندی دا ونه وایو چه ته او ستا خدای ولاړشی او جنګ وکړی . بلکه مونږ به ستا په ښی خوا او کینی خوا او وړاندی او وروسته جنګیږو . دده ددی تقریر په اثر د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك مخ د خوشحالی نه وغوړید .

لنډه دا چه د هجری دوهم کال د روژی د میاشتی په دولسمه نیټه رسول الله صلی الله علیه وسلم تقریباً د دریو سوو سرتیرو مجاهدینو سره د ښارنه د باندی ووت او چه د ښار نه یو میل لری لاړ نو خپل لښکر ئی معاینه کړ . څوك چه ډیر کوچنیان ووهغوی ئی بیرته ولیږل ځکه دغسی خطرناك ځای ته تګ د ماشومانو کار نه دی . په دی لښکر کی عمیر بن ابی وقاص یو کم عمر هلك ؤ کله چه ورته د بیرته ستنیدو حکم وشونو په ژړا شو او بیا ورته محمد صلی الله علیه وسلم جهاد ته د تګ اجازه ورکړه . د عمیر ورور سعد بن ابی وقاص د دی کوچنی سپاهی په غاړه کی توره ځوړنده کړه ، په دی وخت کی د ټول لښکر شمیر دری سوه و یارلس تنه ؤ چه شپیته مهاجر او نور انصار وو . دوی د بدر هغی سیمی ته روان شول چه هلته د مکی د خلکو د راتلو خبر هم راغلی ؤ . خبریالانو خبر راوړ چه د مکی معظمی نه قریش د ډیر سازو سامان سره راغلی وو . دوی ټول زر تنه وو چه سل تنه ئی په آسونو سپاره وو . په دی لښکر کی د قریشو ټولو رئیسانو ګډون کړی ؤ . ابولهب د کوم مجبوریت له مخی پخپله نه ؤ راغلی . د دوی د ډوډی او نورو ضروریاتو پوره انتظام ؤ . عتبه بن ربیعه د قریشو لوی مشر او درونډ رئیس ددغه لښکر سپه سالار ؤ . کوم وخت چه قریش بدر ته نژدی ورسیدل دا خبره ورته معلومه شوه چه د ابوسفیان قافله له

خطری څخه سلامته تیره شوی ده ، نو د زهره او عدی نومی قبیلو مشرانو وویل چه اوس جنګ جګړی ته څه ضرورت نشته .

خو ابوجهل دا خبره و نه منله . د زهره او عدی قبیلو خلك بیرته مکی ته لاړل او نور لښکر مخ په وړاندی روان شو . هر کله چه قریش دغه ځای ته وړاندی له وړاندی رسیدلی وو ، ښه ښه ځایونه ئی لاندی کړی وو ، مګر د مسلمانانو په سیمه کی نه کومه څاوه او نه کومه چینه او زمکه داسی شګلنه وه چه داوښانو پښی پکی تر زنګنو ښخیدلی . حباب بن منذر محمد صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ دا ځای چه خوښ شوی دوحی له مخی دی ؟

پیغمبر علیه السلام ورته وویل چه «وحی نه وه» . حباب وویل نوښه به داوی چه وړاندی لاړ شو او کومه چینه ونیسو او شاو خوا ځاګانی له کاره و باسو .

محمد صلی الله علیه وسلم دغه نظریه خوښه او عملی کړه . په دغه وخت کی د الهی تائید او ښه اتفاق په اثر باران وشو چه د دغه باران په اثر دوړی کښیناستی ، ځای په ځای بندونه واچول شول او کوچنی کوچنی ډنډونه جوړ شول چه د غسل او اودس لپاره تری کار اخستل کیده . پاك

خدای خپل دا قدرتی احسان په قرآن مجید کی هم ذکر کړی دی :

وینزل علیکم من السماء ماء لیطهرکم به

او هر کله چه خدای له آسمان نه اوبه وورولی چه تاسی پاك کړی .

که څه هم د اوبو ځایونه ونیول شول خو د کوثر د ساقی فیض او پیرزو دومره دومره عامه وه چه دښمنانو ته هم داوبو دوړلو عامه اجازه وه .

دا دشپی وخت ؤ . ټولو صحابه ؤ وسلی کیښودی او په آرام بیده شول ، خو نبوی ذات ؤ چه ترسهاره پوری ویښ او الهی درګاه ته لاس په دعا ولاړ ؤ . سهار مهال ئی په خلکو د لمانځه لپاره غږوکه او تر لمانځه وروسته ئی د غزا او جهاد په باره کی وعظ و فرمایه . که څه هم قریش جنګ ته ډیر لیوال وو ، لیکن په دوی کی ځینی داسی ښه خلك هم وو چه د وینو تویولو نه ئی کرکه او نفرت کاوه خوبیاهم د ځینو جګړه خوښوونکو او شرپسندو قریشو پیغورونه او نانډری دومره ډیری شوی چه د جګړی میدان ئی ګرم کړ . محمد صلی الله علیه وسلم نه غوښتل چه مبارك لاسونه ئی د چا په وینو ککړ شی نو صحابه ؤ د میدان جنګ په یوه څنډه کی

پاتی په (۴۰) مخ کښی

د شهید حاجي بوستان لنډي سوانح

شهید حاجی بوستان د حاجی سید ولی شاه ځوی د ننگرهار د ولایت دکامی د ولسوالی د ذاخیلو د قرئی اوسیدونکی په یوه دینداره کورنی کښی زیږیدلی او لوئی شوی دی ، په ۱۳۴٦ هـ ش کال د ذاخیلو په کلیوالی ښوونځی کښی شامل او تر څلورم ټولگی پوری ئی په همدغه ښونځی کی زده کړه وکړه وروسته په (۱۳۵۰) هـ ش کال له دغی ښوونځی څخه فارغ شو . د مکتب له فراغت نه وروسته ئی دریوری زده کړه او څه موده ئی په افغانستان کی دریوری وکړه ، ځو دا چه د ثور د کرغیړنی کودتا نه وروسته په (۱۳۵۸) هـ ش کال کی پاکستان ته مهاجر شو او په (۱۳۵۹) هـ ش کال کښی سعودی عربستان ته ولاړ هلته ئی دینی زده کړه وکړه او په (۱۳٦۷) هـ ش کال کی پاکستان ته راستون او له مولوی عبدالغفار نه ئی نوره دینی زده کړه هم وکړه ، ځو دا چه په همدی کال کی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم په دعوت او ارشاد ریاست کښی لومړی د مامور او بیا د دریور په حیث مقرر شو . وروسته د (۱۳٦۹) هـ ش کال د حمل د میاشتی په (۷) نیټه کله چه د رمضان المبارك د میاشتی د قرآنکریم د ترجمی له فراغت نه وروسته د شیخ غلام الله «رحمتی» صاحب په ملگرتیا له پیښی ستیشن څخه د پیښور خواته روان وو ، پر لاری ئی موټر له یو ټرك سره وجنگید او د وظیفی د اجراء کولو په حال کښی ئی د شهادت جام وڅښه .

(انا لله وانا الیه راجعون)

دباجوړ ایجنسي د تنظیم طلبه سلفیه رپوټ

شهید وروړ انصار الله «متوکل» د حاجی صاحب امیر محمد زوی د کنړ د ولایت د پیچ ددری د ننګلام د کلی په یوه متدینه کورنی کښی زیږیدلی او د خپل کلی په متوسطه کښی ئی تراتم ټولګی پوری ابتدائی تعلیم تر سره کړ او په (۱۳۵۷) هجری شمسی کال کښی د ملحد رژیم تر کودتا کولو وروسته د پاکستان په لور په هجرت کولو مجبور شوی او پاکستان ته ئی هجرت وکړ، تر هجرت کولو ورسته ئی د کمونیست دولت پر ضد په مسلحانه جهاد کښی برخه واخسته او د جهاد په تود اوګرم سنګر کښی ئی درب العزت حکم ته لبیك ووایه او خپل عملی جهاد ئی پیل کړ. شهید انصار الله له ډیرو ستونځو او ربړونو سره سره د الله جل جلاله د کتاب (قرآن مجید) او د الله جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم د آحادیثو د زده کړی لپاره د پاکستان په مختلفو ادارو، مدارسو، جامعو اولیسو کښی شدائد او مصائب او محن ګاللی او د خپلی علمی تقویٰ تر ځنګ ئی وسله وال جهاد هم مخ په وړاندی بیولی دی. شهید وروړ متوکل علی الله له (۱۴۰۸) هـ قمری کال څخه را په دی خوا د باجوړ ایجنسی د تنظیم طلبه سلفیه د آمریت وظیفه پرغاړه در لوده او د آمریت له وظیفی سره ئی د تنظیم هر قسم خدمت ته ښه راغلاست وایه، او د جهاد په هر ډګر کښی ئی د ننګیالیتوب د صفت تر څنګ د جنګیالیتوب صفت هم در لود. د عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) په غنډ کښی یو وار زخمی شو او خپل تعلیم ئی د موقوف علیه درجی ته ورساوه او خپل باقی اسباقئ تیر کال د دیر د ضلعی د تیمرګری په جامعۀ سلفیه کښی سرته ورسول. نوموړی شهید د رخصتی وخت غنمیت و باله او د باجوړ ایجنسی په جامعه ثانویه کښی ئی د نحوی په دوره کښی شرکت وکړ او بالاخره ئی سرته ورسوله. ددوری د اختتام په وخت کښی د جهاد د مقدسی فریضی د ادا کولو له پاره له (۳۰) ملګرو سره د جهاد تود سنګر ته

ولاړ او د خپلو مجاهدو ورونو سره اوږه په اوږه ئی د ملحد رژیم په مقابله کښی سینه سپر کړه او دښمن ته ئی غاښ ماتوونکی جوابونه ورکړل څو د جګړی په اوږدوکی تر شدید او سخت مقاومت وروسته د دوشنبی په ورځ د سهار په نهو بجو د شعبان د میاشتی په اتمه نیټه د ګمبیری په ډاګ کښی په داسی حالت کی چه دښمن ئی پرشاتمبولی وو، د شهادت لوړ مقام ته ورسیده.

(انالله وانا الیه راجعون).

مونږ د تنظیم طلبه سلفیه ټول کارکنان عموماً او بالخصوص د باجوړ ایجنسی کارکنان د شهید ورور و ارثانو او خپلو خپلوانو ته د صبر جمیل دعا کوو او د شهید روح ته د بخشش او مغفرت دعا غواړو.

د (۲۷) مخ پاتی

اسلامی غزاګانی

د بدر غزا

څپر جوړ کړ چه پیغمبر په کی ناست وی. سعد بن معاذ (رضی الله عنه) د دغه څپر په مخکی توره په لاس ودرید چه څوك دغه پلوته رانشی. که څه هم د پاك خدای له دربار څخه د فتحی او نصرت وعده شوی وه او د عالم ټول عناصر دده مرستی ته تیار وو، د ملایکولښکری هم ورسره همرکاب وی مګر سره د دی ټولو خبرو د دنیاوی سببونو په وجه محمد صلی الله علیه وسلم د جنګ د اصولو سره سم لښکری ترتیب کړی، د مهاجرینو «علم» ئی مصعب بن عمیر ته ورکړ او د خزرج علم ئی حباب بن منذر ته او د اوس نومی قبیلی بیرغ ئی سعد بن معاذ ته وسپاره.

چه سهار شو نو محمد صلی الله علیه وسلم د صفونو په برابرولو پیل وکړ. دده په مبارك لاس کی یو غشی ؤ چه د هغه په اشاره ئی صفونه برابرول چه څوك له کتار نه وړاندی وروسته نشی. که څه هم په جنګونو، کی عموماً شوُما شور ډیر زیات وی خو په دوی په داسی سخت بندیز لګیدلی ؤ چه چا د خولی نه آواز نشو ویستلای.

په دغه وخت کی دوه صفونه د یو بل په مقابل کی لیکه ولاړ وو د حق او باطل د نور او ظلمت او د کفر او اسلام.

(پاتی په راتلونکی ګڼه کی)

دلتوانیا جمهور رئیس د گورباچوف سرحدی اقدام غیر قانونی وباله

د شوروی اتحاد جمهور رئیس میخائیل گورباچوف د لتوانیا جمهوریت ته چه استقلال ئی اعلان کړی دی پداسی حال کښی نوی اخطار ورکړی دی چه شوروی زره پوشونه بیا دلتوانیا په ځینو ښارو کښی ولیدل شول .

گورباچوف دلتوانیا جمهور رئیس ته په یو پیغام کښی وویل : د محلی دفاعی قطعاتو د جوړیدلو د مخنیوی په منظور باید په (۷) ورځو کښی اقدامات وشی . مخکښی مسکو لتوانیا ته ویلی وو چه ټولی شخصی وسلی په (۷) ورځو کښی راجمع کړی ، مسکو دغه خبر وروسته له هغه خپور کړ چه لتوانیا اعلان وکړ چه د خپلی خپلواکی دبیا اعادی په منظور سرحدی محافظت استخداموی . د مارچ د (۱۱) راهیسی چه لتوانیا خپلواکی اعلان کړی ده شوروی قواوی په دغه جمهوریت کښی دننه او هغه ته نژدی مانوری کوی او د اعصابو داسی جنگ ئی ورسره پیل کړی دی چه ورځ په ورځ زور اخلی .

شوروی مشر وویل داسی ښکاری چه لتوانیا د سرحدی محافظینو په استخدامولو سره شوروی سرحدی فوځیان او داخلی امنیتی قواوی لیری کړی دی . د تاس رسمی خبری اژانس وایی چه د شوروی د خفیه پولیسو (KGB) سرحدی فوځیانو په لتوانیا کی سرحدی پوستی او نور تأسیسات تقویه کړی دی گورباچوف دغه وینا فقط یوه ورځ وروسته هغه وخت وکړه چهٔ دلتوانیا جمهور رئیس د شوروی سخت سرحدی کنترول غیر قانونی و باله .

ښاغلی (لین برگس ، وویل : دا داسی معنی لری لکه څوك چه ټول ملت زندانی کړی .

ضمناً «بش» په دواړو غږ کړی دی چه د زغم او حوصلی نه کار واخلی او خبری سره وکړی «بش» وویل : دی فکر نه کوی

چه یوه خوا دی هم د قوی استعمال وغواړی مګر ده دی سوال ته د جواب ورکولو نه ډډه وکړه چه که شوروی اتحاد قوه استعمال کړی نو امریکا به څه وکړی ؟

خو کله چه په لتوانیا باندی شوروی اتحاد دنوو تعذیراتو په باره کښی ورځنی پوښتنه وشوه ده داسی وویل : «زه به هغی ته سولئیز تدریجی تکامل ونه وایم دا یوه موضوع ده چه باید لتوانیائیانو چه استقلال ئی اعلان کړی او د شوروی د مامورینو تر منځ دی د خبرو په وسیله حل شی .

د (۹) مخ پاتی

آغاخان داسلام اوافغانستان ....

اسماعلیت قانون نافذ او تطبیق شی . دا په حقیقت کی د روس د انتقام جوئی نوی نقشه ده چه غواړی د آغا خان په وسیله د افغانستان د مجاهد ملت جهادی تاریخ مسخ کړی . خو آغا خان یا دهغه باداران چه د اسلام او افغانستان په باب ناوړه نیتونه او شومی آرزوګانی په سرکی روزی باید په دی و پوهیږی چه د افغانستان مجاهد ملت لکه څنګه چه ئی د روسی اشتراکیت او الحاد په خلاف مبارزه وکړه او د افغانستان د هری لویشتی ځمکی نه ئی په سر او مال دفاع وکړه او پری ئی نه ښودل چه ددی اسلامی هیواد په یوګوټ کی هم پردی تیری کوونکی پښه ټینګه کړی ، دغه شان به د اسماعلیت او رافضیت په خلاف هم جهاد او قتال وکړی . دا مؤمن ملت په خپل هیواد کی د توحید د عقیدی په بنسټ د ولاړ اسلامی نظام د ټینګښت نه غیر د خپل جهاد وسله په ځمکه ایښودل نه بخښونکی جرم ګڼی .

دافغانستان د تقسیم او تجزئی په باب د آغا خان نظر زمونږ د هیواد د آزادی او اسلامی حیثیت او تشخص په خلاف د هغه د ناوړه شیطانی نیت زیرنده ده خو مونږ اخطار ورکوو چه که آغا خان د خپلو ناوړه نیت او شیطانی پلان نه لاس وانخلی او خپل بیانات تلافی نه کړی مونږ به په ټولو آزادو سیمو کی د نوموړی پروګرامونه په هر شکل او بڼه چه وی په ټپه ودروو .

نامهٔ وارده

برادر نهایت گرامی ماشاغلی محمد ایوب مهتمم مدرسهٔ خالد بن ولید (رضی الله عنه) به ادارهٔ مجلهٔ دعوت نامه ای پرصمیمیت ارسال فرموده و خواهش نموده که آنرا پخش نمائیم ماضمن پخش نمودن نامه از برادر خود ابراز تشکر مینمائیم والسلام (اداره)

«سقوط الحاد»

بحضور محترم مدیر صاحب مجله دعوت :. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نخست از همه سعادت دارین کارکنان اساسی مجله دعوت را تمنا داشته امید که مضمون اتی را به نشر رسانیده ممنون سازید.

از آنجائیکه جماعة الدعوة درین مرحله حساس مسؤلیت بزرگ عرضه دعوة ایدیالوژیکی اسلامی و درنهایت تعلیم قرآن و حدیث و اگاهی مردم از مسائل دینی و جهادی را به دوش گرفته است. و از آنجائیکه دعوة بسوی قرآن و حدیث برای کافه جهانیان با لخصوص بمردم مجاهد افغانستان و «شعار» جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان است.

ـ نیل به آن، هدف اصلی مقام رهبری و تمام مسئولین جماعت است (دعوة بسوی قرآن و حدیث برای کافه مردم افغانستان مرام و هدف والا و مقدس است که وصول به آن ایجاب مساعی پیگیروخستگی ناپذیر را مینماید:

ـ و از آنجائیکه در پهلوی جهاد گرم (مسلح) جهاد قلمی و تبلیغاتی سرد درین شرایط حساس جهادی به دوش مسئولین جماعة الدعوة لازم است.

جای مسرت است که مجله «دعوت» در قطار سائر مجلات و نشرات جهادی علاوه گردیده و آرزوی یکتعداد از مردم مجاهد افغانستان به تحقق پیوست.

آری! هر چراغ علم و معرفت که روشن

میشود ، جهان فرهنگ و دانش را روشنترو منور می سازد ، خاصه آن چراغیکه از علم قرآن وحدیث ، این فلسفه فطری انسان سرچشمه گرفته باشد .

تقریباً دوسال می شود که از سلولهای سیاه زندان پلچرخی رها و به مطالعه مجله «دعوة» آغاز نموده آرزو داشتم تا به مجله «دعوة» پیامی و یا مضمونی ارسال دارم ، ولی بخاطرم . می گشت . از کجا باید آغاز کود ؟! از ظلم و بربریت غلامان کمونیزم جهانخوار ؟! از کجا ؟! از قهرمانی و دلیری مجاهدین غیور وملت مسلمان افغانستان ؟! از کجا ؟!...

از ظلم و تشدد یکه علیه مجاهدین و ملت افغانستان در داخل سلولهای زندان وحشی غلامان کمونیزم (خلق و پرچم) صبح و شام میگذرند ؟! از کجا ؟! از جوانانی نورشد ، قهرمان ، روشنفکر ، فدایان دین مقدس اسلام و افغانان دلیر که مانند ابراهیم (علیه السلام) بت شکن و اسماعیل (علیه السلام) و یوسف (علیه السلام) این داعییون عقیدهٔ پاك توحیدی در فراق مهر والدین و خویشاوندان در عقب دیوار های سیاه زندان پلچرخی سرسپردگی خویش را در مقابل اهریمن (دولت ملحد) نشانداده است ، از کجا ؟!!!

یا از ناله و ضجه مادران موی سفید و پدران ریش سفیدی که جگر گوشهای خود را بخاطر اعلاء کلمة الله فدای آزادی وحریت نموده اند ؟! از کجا ؟!!

از نفاق وعداوت وحسد آنهائیکه در دامن انگریز تربیت یافته و نمیخواهند یك نیروی توحیدی اسلامی تقرر یابد ؟ از کجا ؟!

بیائید نخست از همه توضیح دهیم که عامل همه تشنجات فعلی در دنیا کیست و گناه از که بود ؟!..

از آنهائیکه انسانیت را نابود میساخت و فطرت بشریت را محکوم میکرد .

مانند رقاصه ها گاهی دریك لباس و گاهی در لباس دیگر مجلا می شدند وسعی می کردند تاجامعه اسلامی وحتی نام اسلام را از دنیا و اذهان مردم نابود سازند و ... این ماده پرستان یعنی آنهائیکه تبلیغات زهر اگین خود را علیه اسلام و مسلمانان آغاز کرد (مانند این که امروز عین تبلیغات مزدور نجیب توسط ملایان «شیون» به اصطلاح اسلامی بانفشه های دقیق ، ماهرانه و شیطانی تقویت کرده میخواهند مسلمین را از واقعت اسلام بی خبر نگاهدارند) .

آنهائیکه فلسفه های بوسیده را ایجاد

کرد و بالاخره جهان انسانیت را به حیوانیت مبدل کرد .

آنها به جهانیان جز خیانت ، بی حیایی ، هلاکت و جز شکست اقتصادی ، سیاسی و اجتماعی چیز دیگر را به وجود نیاوردند .

بیائید با نتایج جنگ های جهانی و مطالعه دقیق او ضاع وقت روشن سازیم که این آدم خواران به جهانیان چه چیز به ارمغان آورده اند ؟.

در اولین جنگ جهانی که «1565» روز دوام کرد ، شست و پنج «65» ملیون نفر به جنگ تسیج گردید که در دوران جنگ نو «9» ملیون انسان تلف گردید و «22» ملیون نفر از فعالیت و کار افتاد و «7» ملیون نفر برای آبد نافص الاعضاء و عاجز گردید و «5» ملیون نفر مفقود گردیدند و «400» ملیارد دولار هزینه اقتصادی در جنگ مصرف گردید .

همچنین در جنگ دوم جهانی از «80» ملیون نفر اضافه مسلح گردیده بود که «17» هفده ملیون نفر به قتل رسیدند ، مجموع تلفات انسانی در جنگ دوم جهانی بالغ بر «35» ملیون نفر می باشد ،

بیست «20» ملیون جنین سقط گردید ، «15» ملیون مکتب منهدم گردید و «18000» هزار دفتر خانه ها منهدم گردید و «400» ملیارد مرمی در هوا منفجر گردید .

آری ! عاملین این فاجعه ها آنهای بودند که به مردم وعده های دروغین نان ، لباس و خانه داده بودند .

آنها بودند که می گفت ما به بشریت خدمت می کنیم .

آنها بعد از آن که بادارانش چون مارکس و لینن در فلسفه های بوسیدهٔ و مملؤ از خرافات خود نوشتند : «ماتریالیزم دیا لکتیك ، کمونیزم و سوسیالیزم بادین اسلام مخالفت دارند» (صفحه ۳ ـ اصول فلسفه مارکسیزم) و هزاران خرافات دیگر که در صفحات دیگرش گنجانیده شده است .

آنها بودند که این اظلام و استبداد های کمونستی و امپریالستی را بالای انسانهای روی کره زمین نموده و کرملین با جاسوسان وغلامان خود حالا هم میخواهد گسترش بدهند .

ولی اولین فریاد ملکوتی اسلام در افغانستان که بناهای فریب و تذویر این نظامهای جاهلی و استبدادی دنیا را به لرزه در آورد و علیه تمام نظامهای بوسیده و مملؤ از خرافات جهان خط بطلان کشید .

برماست تا در مقابل این ماده پرستان و آدم خواران جهان خود را باسلاح ایمان و عقیدهٔ توحیدی مجهز سازیم تا صدای ایمانی و فطری آزادی ما را روس در کرملین و امریکا در «قصر سفید» شنیده و مانند شیطانیکه به حضرت عمر (رضی الله عنه) راه را ترک میگفت ، راه چه حتی مفکوره و ایدیالوژی پوچ خود را باید تغیر بدهند .

والسلام محمد ایوب مهتمم مدرسهٔ خالد بن ولید (رضی الله عنه) .

د (۱۸) مخ پاتی

شیخ جمیل الرحمن وویل ...

زمونږ په نظر دغه ډول پالیسی د هیچا په گټه نه ده بلکه غیر له تخریب نه تری د هیڅ ډول تعمیر او اصلاح امید نشی کیدی .

د دغو ترخو حقایقو بیان هیڅکله هم دا معنی نه لری چه گوندی مونږ د دغو حالاتو په وړاندی بی تفاوته یو او یا مو زغره او ډال غورزولی دی او د گوشه نشینۍ او انزوا په عالم کښی نتایجو او عواقبو انتظار وباسو بلکه حقیقت دادی هغه خلك چه له شرایطو او حالاتو سره سازش او د اسلامی آرزښتونو په سر معامله کوی د سعادت او عزت څخه به محروم او د ذلت او شرمندگی ژوند به ئی په نصیب وی .

مؤمن مسلمان باید د ایمان او یقین او د الله تعالی په نصرت باندی په اتکا سره د تل لپاره د ټولو اجتماعی ناخوالیو په خلاف پرله پسی جهاد او مبارزه وکړی او د شرایطو ارابه د حق او حقیقت په گټه وڅرخوی . په دغه لار کی باید نا امیدی او حسرت ته په زړه کی ځای ورنه کړی ځکه ناامیدی د کافرانو شیوه ده .

الله تعالی فرمائی :

انه لائیس من رحمة الله الا القوم الكفرون .

د جهاد خبرونه

د مجاهدینو د باخبره منابعو خبردی چه د حوت د میاشتی په (۲۷) نیټه د غور دولایت د (تای ورا) په ولسوالی کښی مجاهدینو د رژیم په امنیتی پوستو باندی یوه زوروره حمله او د درندو وسلو ډزی وکړی . په دی حمله کښی د رژیم (۱۰۰) سل کسه د پوستونه تښتیدلی او مجاهدینو ته تسلیم شوی دی . ددی برسیره (۷) تنه ملیشه وژل شوی او (۱۰) تنه نور مجاهدینو ژوندی نیولی دی . د مجاهدینو نه په دی عملیاتو کښی یو تن شهید شوی او (٤) تنه ټپیان شوی دی .

په خبر کښی دا هم ویل شوی دی چه یوه اندازه سپکه او درنده وسله مجاهدینو ته په لاس ورغلی ده . د بلی خوا د هرات د ولایت نه په راپور کښی ویل شوی دی چه د هغه ځای مجاهدینو د حوت په (۲۶) او (۲۷) مو نیټو د باباجی او کلا ته په تأسیساتو باندی دراکټونو ډزی کړی . یو ټانك د سپرلیو سره تباه شوی او په عسکرو کښی هم ډیره مرگ ژوبله شوی ده .

همدارنگه د فراه په ولایت کښی مجاهدینو د حوت د میاشتی په (۲۷) مه نیټه د فراه په ښار کښی د رژیم په امنیتی مرکزو او پوستو باندی حملی کړی ، (۷) تنه ملیشه ئی وژلی او (۱۲) تنه نور ئی زخمیان کړی دی . د رژیم (۷) تنه عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شوی دی . او هم د قندهار په ولایت کښی مجاهدینو د قندهار د محبس او سری ژامی په سیمو کښی چه د قندهار د ښار په لویدیځ اړخ کښی واقع دی ، د مجاهدینو په امنیتی پوستو باندی حملی کړی چه په دی جگړو کښی د رژیم (۲٤) تنه ملشه وژل شوی او (٦) کسه نور زخمی شوی دی .

راپور زیاتوی چه (۸) تنه ملیشه

مجاهدینو ژوندی نیولی ، د مخابری یوه ستګاه او څه نوره وسله مجاهدینو ته په لاس ورغلی . همدغه راز ویل کیږی چه د رژیم یوه لاری چه د محبس پوستی ته ئی مهمات وړل ، د مجاهدینو په ... مین ختلی او تباه شوی ده .

PROPERTY OF ACKU S524

د مجاهدینو د باخبره منابعو خبر دی چه مجاهدینو په دی وروستیو وختو کښی د هرات په ښار کښی په حکومتی تاسیساتو یو لړ حملی کړی ، د رژیم یو شمیر لوړ رتبه صاحب منصبان مړه او د هرات والی ټپی شوی دی . منبع وائی د دغی حملی د تلفاتو شمیر د هغه شمیر نه زیات دی چه مخکښی رپورټونو کښی راغلی وو . منبع د یو تن عینی شاهد له قوله وائی . مجاهدینو د حمل په میاشت کښی د بدخشان ولایت په مرکز فیض آباد کښی د رژیم په یوه امنیتی پوسته حمله وکړه او د رژیم دری تنه عسکرئی مړه او (٦) تنه نور ئی ټپیان شول ددی حملی په وخت کښی مجاهدینو د یو تن صاحب منصب په ګډون دری (٣) تنه عسکر ژوندی ونیول او پوسته لاس ته ورغله ، دغه پوسته د فیض آباد او هوائی میدان ترمنځ پرته ده . په دی حمله کی د مجاهدینونه دری تنه ټپیان شوی دی .

همدارنګه د مجاهدینو په یو بل رپوټ کښی ویل شوی دی چه مجاهدینو د بلخ د ولایت د دولت آباد په سیمه کښی د رژیم په یو قطار باندی حمله وکړه او یوه زیاته اندازه وسله ئی ورنه واخستله . په دی حمله کی د مجاهدینو دوه تنه مړه او پنځه تنه ټپیان شوی دی .

له هرات ولایت نه په بل رپوټ کښی ویل شوی چه مجاهدینو د حمل د میاشتی په (١٣ ـ ١۴) نیټه د هرات د ولایت د ، ناخنك ، ایوبی او د ګودر په سیمو کښی د رژیم په تاسیساتو حملی وکړی . په دغو حملو کښی (١٠) تنه عسکر مړه او (٢) تنه زخمیان شول .

همدارنګه د حمل د میاشتی په (١٣) مه نېټه مجاهدینو د هرات ښارته نږدی د پل واوا په سیمه کښی د رژیم په یوه لاری ناڅاپی حمله وکړه او د سپرلیو سره ئی له منځه یو وړه .

خبر زیاتوی چه مجاهدینو د حمل په (١٤) نیټه د فاریاب د ولایت د شیرین تګاب د ولسوالی د قزل قشلاق او قاب قشلاق په سیمو کښی د رژیم (٣) ټانکونه او (٢٠) نظامی وسایط تخریب کړی او مجاهدینو ته یوه زیاته اندازه وسله او مهمات لاس ته ورغلی او د سیمی ټولی پوستی ئی نیولی دی .

نبوي ارشاد

بسم الله الرحمن الرحيم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل د طواف په ترځ کی بیت الله
شریف ته په خطاب کی وفرمایل: څومره پاک یې ته او
څومره زړه راښکونکې ده ستا فضا، څومره عظیمه یې ته
او څومره محترم دی ستا مقام خو په هغه خدای می
دی قسم وي چه د محمد صلی الله علیه وسلم روح یې په
واک دی چه د یو مسلمان د ځان او مال احترام
ستا د حرمت نه زیات دی .

(ابن ماجه حدیث ۳۹۳۲)

بسم الله الرحمن الرحیم

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اکبر

ان هذا القرآن یهدی للتی هی اقوم

ان الارض لله یورثها من یشاء من عباده

الا له الخلق والامر

الا له الخلق والامر

۱۳۸۴ هـ ق

جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

افغانستان